إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا

په رښتيا سره لمونځ پر مؤمنانو په ټاکلي وخت کي فرض کړل شويدی

لمونځ ښکاره معراج د زړه دی هم رحمت درباندي اوري
په حضور د چا ولاړ يې څه کوې څوک درته ګوري

دحنفي فقهي له ديدګاه څخه

# د لمانځه اثبات او صحت


مؤلف:

جان محمد کاکړ "کندهاری"



۱۳۸۸ لمريز کال دوهم چاپ



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ټول چاپي حقوق
د ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي

د کتاب پېژندنه:
****************************************************
❖ د کتاب نوم ::: د لمانځه اثبات او صحت
❖ ليکوال ::: جان محمد کاکړ "کندهاری"
❖ سمون ::: مولف پخپله
❖ کمپوز ::: مولف پخپله
❖ خپرندوی ::: فيضي کتب خانه
❖ د چاپ کال ::: ۱۳۸۸دوهم چاپ
❖ د چاپ شمېر ::: زر ټوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


۱. لمونځ ........ ٦
۲. په اسلام کي د لمونځ مرتبه ........ ۱۲
۳. اودس ........ ۱۸
۴. د اودس فرضونه ........ ۲۰
۵. د اودس سنتونه ........ ۲۰
٦. د اودس مستحبات ........ ۲۱
۷. د اودس آداب ........ ۲۲
۸. د اودس نفلونه شپږدی ........ ۲۲
۹. د اودس منهیات اته دی ........ ۲۳
۱۰. د اودس تازه کولو طریقه ........ ۲۴
۱۱. پر موزو مسح کول ........ ۲۸
۱۲. تیمم ........ ۳۰
۱۳. د اودس ماتونکي ........ ۳۲
۱۴. د حیض بیان ........ ۳۳
۱۵. غسل ........ ۳۳
۱٦. د غسل شپږ سنتونه ........ ۳۴
۱۷. د غسل کولو طریقه ........ ۳۴
۱۸. د غسل اقسام ........ ۳۵
۱۹. د لمانځه شرطونه ........ ۳۷
۲۰. د لمانځه فرضونه ........ ۳۸
۲۱. د لمانځه واجبات ........ ۳۸
۲۲. د لمانځه سنتونه ........ ۴۰
۲۳. د لمانځه مستحبات ........ ۴۲
۲۴. د لمانځه مکروهات ........ ۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۵. د لمانځه مفسدات ........................................................ ۴۶
۲۶. د سهوي سجدې ........................................................ ۴۷
۲۷. د لمانځه لفظي ترجمه ........................................................ ۴۸
۲۸. دلمانځه ادا کولو صحیح طریقه ........................................................ ۵۵
۲۹. په امام پسې په جماعت لمونځ کول ........................................................ ۶۲
۳۰. لاحِق او مسبوق ........................................................ ۶۴
۳۱. د په لمانځ کې د قرآن قرآئت ........................................................ ۶۷
۳۲. د وِتر لمونځ ........................................................ ۶۹
۳۳. د جماعت د لمانځه فضیلت او تاکید ........................................................ ۷۰
۳۴. دقضاء شوو لمونځونو د بیا راګرځولو طریقه ........................................................ ۷۴
۳۵. د جمعې لمونځ ........................................................ ۷۷
۳۶. د جمعې د لمانځه د وجوب شرطونه ........................................................ ۷۹
۳۷. د جمعې د لمانځه د صحت شرطونه ........................................................ ۷۹
۳۸. مسافرانه لمونځ ........................................................ ۸۱
۳۹. د تراویح لمونځ ........................................................ ۸۷
۴۰. د اخترونو لمونځونه ........................................................ ۸۹
۴۱. د جنازې لمونځ ........................................................ ۹۴
۴۲. سنت او نفل لمونځونه ........................................................ ۱۰۰
۴۳. تحیة الوضوء ........................................................ ۱۰۲
۴۴. صلوة الاشراق ........................................................ ۱۰۲
۴۵. تحیة المسجد ........................................................ ۱۰۲
۴۶. صلوة الاوابین ........................................................ ۱۰۳
۴۷. صلوة التهجد ........................................................ ۱۰۳
۴۸. صلوة التسبیح ........................................................ ۱۰۳
۴۹. په کوم وخت کې لمونځ ماتول جائز دي ........................................................ ۱۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرّحمٰن الرّحيم

الحمد لله الذی فرض علىٰ عباده الصلوٰة وجعلها كتابًا موقوتا والصلوٰة والسلام على نبيه الذی قال الصلوٰة عمادالدين من اقامها فقد أقام الدين ومن هدمها فقد هدم الدين وعلى آله وصحبه ومن تبع هداهم إلىٰ يوم الدين .

**اما بعد:** غاړه ايښودل و اوامرو ته د لوی او مهربان خدای ﷻ او د ټولو هغو احكامو منل چي د الله ﷻ او د ده د رسول حضرت محمد ﷺ له طرفه څخه دي اسلام ورته ويل كيږی. د الله تعالىٰ ﷻ او د هغه د رسول ﷺ دا اوامر اساسًا پر پنځو برخو ويشل شوي او هری برخي ته يې فريضه ويل كيږی چي په رأس كي يې كلمۀ طيبه ده.

"لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ مُحَمدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه"

څرنګه چي دغه كلمه د اسلام د پاک او سپيڅلي دين اساس او بنسټ ټاكل شويده نو د بزرګۍ ، عظمت او بركت په خاطر له څلورو (۴) خواؤ څخه يې هر طرف په يوه اساسی ستون باندی تكيه دی چي دغه ستنی يې لمونځ كول، روژه نيول، زكات وركول او د كعبي شريفي زيارت (حج) كول دي چي دا څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړه فرض او هر يو يې جدا تفصيل لري، د الهي فيوضاتو څخه ډک او د انسانانو د ګټو په خاطر راليږل شويدي او د کلمهٔ طيبې سره د اسلام د پاک دين پنځه اساسي فريضې تشکيلوي.

څرنګه چي د اسلام دين داسې تنظيم شويدی چي پر سر يې کلمهٔ طيبه او هغه بيا پر څلوروستنو ولاړه ده نو سوال پيداکيږی چي دا څلور واړه ستنې پر څه شي ولاړي دي؟ هغه ښه اخلاق (حسن اخلاق) دی، حديث شريف دی چي عليه الصلوٰة والسلام فرمايي:

بُعِثتُ لاُتَمّمَ مَكَارِمَ الاَخلاقِ.

زه د ښو اخلاقو دتکميل او بشپړولو د پاره را استول شوی يم.

په محمدي کړنلاره کي د توحيد نه وروسته لمونځ فرض ګڼل شوی دی چي د دغه کتاب هدف هم د لمانځه په باب ښوونه ده .

**لمونځ**: په اسلام کي لمونځ د عبادت هغه لمړی رکن دی چي دا رکن پر امير، غريب، زوړ، ځوان، نر، ښځه ، روغ او ناروغ ټولو يوشان فرض دی.

لمونځ هغه يوازنۍ عبادت دی چي په هيڅ کوم حالت کي له هيڅ چاڅخه نه ساقط کيږی، که دا فرض څوک په ولاړه نشي اداکولای نو په ملاسته دي يې ادا کړي او که يې په خوله نشي اداکولای نو په اشاره دي يې ادا کړي، او که د ډير مجبوريت په وخت کي څوک د ريدلای نشي نو د تګ او تلو په حالت کي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادا کړي او څوک چي د سپرلۍ په کوم سخت حالت کي وي نو کومي خواته چي موقع وي هغې خوا ته دي مخ کړي او خپل لمونځ دي اداکړي.

لمونځ څه شي دي؟ د خپل خالق په حضور کي د مخلوق د خپل زړه، ژبي، لاسونو او پښو په ذريعه د بندګۍ او عبوديت اظهار، د هغه رحمٰن او رحيم يا د او د هغه د بې انتها احسانونو شکريه، د ازل د حسن حمد او ثنا او د هغه د لويي او عظمت اقرار دی، لمونځ دخپل محبوب سره د خپل محجوب روح خطاب دی ، لمونځ د مولا په حضورکي د جسم او جان بندګي ده، لمونځ د باطني احساساتو د نياز او عذر وړاندی کول دي او زمونږ د زړه د ساز فطري ترانه ده، لمونځ د خالق او مخلوق په منځ کي د تعلق غوټه او د علاقې شيرازه ده، لمونځ د روح تسکين ، د ناقرار زړه تشفٰی، او د مايوس زړه دارو دي، لمونځ د فطرت آواز او داحساس او اثر منونکي طبيعت د زړه چيغه ده، لمونځ د ژوندانه حاصل او د هستۍ خلاصه ده .

و کوم غير طاقت يعنی داسی طاقت ته چي نه ليدل کيږي سر اينبودل او د هغه په حضورکي دعا او فريادکول او د هغه څخه په مشکلاتو کي تسلٰی موندل د انسان فطرت دی، داسي معلوميږي چي د زړه په اعماقو کي يوداسي ډول ساز شته چي پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه نامعلومي ګوتي ولګیږي نو هغه تل ږغیږي یا په بل عبارت په ږغیدلو پیل کوي او همداد أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ فطري ځواب دی.

قرانٰ ځای په ځای د انسانانو د دغه فطري حالت نقشه کښلی ده او دا پوښتنه یې کړیده چي هر کله پر تاسي مصیبتونه راځي او یا تاسو په سمندرونو له طوفان سره مخامخ کیږئ یا ستاسو بیړۍ او جهازونه په ګردابونو کښي ایساریږي او بندیږي نو په دغه رازوختونو کي د الله نه سوا بل څوک دی؟ چي تاسو ورته نارې ووهئ.

لنډه دا چي د انسان ټنډه تل پخپله د یو داسي مسجود په تلاښ او سیږي چي د هغه په مخ کي دي ټیټ شي او د زړه نیاز دي ورته وړاندی کړي، او د خپل د زړه هیلي ورته عرض کړي، لنډه دا چي عبادت د همدې فطري مطالبې ځواب دی، که دا نه وي نو د انساني روح د جنون د جوش علاج یو ناممکن کار دی.

که یو مذهب ډیر زیات وحشي هم وي نو په هغه کي هم د فطرت د دغه آواز د تسلی د پاره د عبادت ځیني لړ او ډیر دودونه او مقررات موجود وي، پس نو آسماني مذهبونه لدې کار څخه څرنګه خالي کیدای شي.

د نړۍ په هر آسماني مذهب کي د پاک خدای ﷻ د یادولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکم او د هغه د یادولو ځیني مراسم او مقررات موجود دي، که په اسلام کي حمد او تسبیح شته نو په یهودیانو کې دعا او په پاریسیانو کې زمزمه او په هندوانو کي بهجن موجود دي او په شپه او ورځ کي د دې فریضې د اداکولو د پاره په هر یو مذهب کي ځیني ټاکلي وختونه هم شته، نو په دغه اساس باید په دغه خبره یقین وکړای شي چي لمونځ د مذهب د هغو اصولو څخه دی چي د نړۍ د ټولو مذهبونو ورباندي اتفاق دی.

د قرآن مجید دتعلیماتو سره سم نړۍ ته هیڅ یو داسي پیغمبر نه دی راغلی چي هغه دي خپل امت ته د لمانځه تعلیم نه وي ورکړی او یا یې د لمانځه په خصوص تأکید نه وي کړی خصوصًا په ابراهیمي ملت کي د لمانځه مقام او حیثیت د نورو ټولو ادیانو څخه زیات او څرګند دی، د قرآن کریم تائید له زبور او تورات څخه هم کیږی.

کله چي حضرت محمّد ﷺ مبعوث شو نو د توحید څخه وروسته لمړئ حکم چي ورته وکړل شو هغه د لمانځه حکم وو.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ﴿١﴾ قُمۡ فَأَنذِرۡ ﴿٢﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ ﴿٣﴾ ۷۴سورة

یعنی ای په برستن کي پیچلې (محمده) پاڅه او و ویروه (خلګ د خدای له عذابه) او ستا رب وستایه په لویي سره، الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷻ په لويي سره ستايل د لمانځه اساس او بنسټ دی.

حضور ﷺ ويده خلک راويښ کړل او چا چې لار ورکه کړېوه هغه ته يې لار وښودله او ناپوه خلک يې پوه کړل او د خدای ﷻ او بندګانو په منځ کې هغه تعلقات چې له منځه تللي وه بر ځای او قايم کړل، د غوښو، هډوکو، سرو او سپينو، خښتو او ډبرو هغه بتان چې د خدايي مقام يې نيولی ووکښته سر دلاندی وغروځول او په نړۍ کښې يې د يو(۱) واحد خدای ﷻ لمونځ باقي پريښود او بيله خدای ﷻ نه يې بل چاته سجده حرامه او منع کړل او په دغه ترتيب يې د لمونځ اصلي حقيقت په نړۍ کې څرګند کړ.

رسول الله ﷺ عربو او د نړۍ نورو بت پرستو قامونو ته له توحيد نه وروسته د لمانځه طريقه وروښودله او د لمانځه ارکان او آداب يې هم ور وښودل او د مؤثرو دعاګانو تعليم يې ورته ورکړ، مشرکين او اهل کتاب (يهود او نصارٰی) يې د اسلام و مقدس دين ته راوبلل، د اسلام د قبلولو نه وروسته يې هغوی ته د لمانځه تعليم ورکړ او هغوی ته يې د دې تأکيد وکړ چې يوازې لمونځ دی چې د خدای ﷻ په حضورکې د بنده د ټولو مشکلاتو، حاجاتو او تکليفونو څخه د نجات او راز او نياز ذريعه ده، الله تعالی ﷻ په قرآن کريم کښې خپلو بندګانو ته داسې امر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حَـٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ ﴿٢٣٨﴾ ۲سورة

یعني د لمونځونو ساتنه کوئ.

دا حکم دلمانځه د ظاهري او معنوي دواړو حیثیتونو په ساتنه مشتمل دی او د مسلمان د پیژندني د پاره دا نښي مقرري دي:

وَهُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿٩٢﴾ ٦ سورة

یعني هغوي د خپلو لمونځونو ساتنه کوي.

ٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَآئِمُونَ ﴿٢٣﴾ ۷۰سورة

یعنی څوک چي خپل لمونځ تل ادا کوي.

وَٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿٩﴾ ۲۳سورة

یعنی او بریالي دي هغه خلک چي د خپلو لمونځونو ساتنه کوي.

په خپله محمّد ﷺ ته امر کیږي چي ته پخپله هم لمونځ کوه او اهل او عیال ته هم د لمونځ کولو حکم کوه او په هغه لمونځ چي د هغه لمونځ په مکه مکرمه کښي دقیام په زمانه کښي ادا کول ډیر مشکل دي په پوره پابندۍ او مضبوطیا سره ټینګ اوسي الله ﷻ حکم وکړ.

وَأۡمُرۡ أَهۡلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَا ﴿١٣٢﴾ ۲۰سورة.

یعني د خپل کور خلکو ته د لمانځه امر کوه او پخپله هم په لمانځه باندي پابند اوسه.

## لمونځ باید څنګه وي؟ وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَقُومُواْ لِلَّهِ قَـٰنِتِينَ ﴿٢٣٨﴾ ۲سورة

یعنی او د الله ﷻ په حضور کي په ادب سره ودرېږئ.

دارازستاینه اوتعریف وشو.

ٱلَّذِينَ هُمْ فِى صَلَاتِهِمْ خَـٰشِعُونَ ﴿٢﴾ ۲۳سورة

یعني کامیاب دي هغه مؤمنان چي په لمانځه کي خشوع او عاجزی کوي. حکم وشو!

ٱدْعُواْ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ﴿٥٥﴾ ۷سورة

یعني تاسو خپل رب په ډیره عاجزۍ سره او پټ پټ یادوئ.

وَٱدْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ﴿٥٦﴾ ۷سورة

یعنی او خپل خدای ﷻ له ویري او امید سره یادوئ.

وَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴿٢٩﴾ ۷سورة

یعني او خدای ﷻ بولئ په داسي حال کي چي یوازي د هغه د دین دپاره اخلاص کونکي یاست. له دې اجمالي نظر نه وروسته د لمانځه پر ټولو مباحثو یو تفصیلي نظرضروري دی.

**په اسلام کښي د لمونځ مرتبه**: له اسلام څخه لمړی هم په نړۍ کښي کوم یو دا راز مذهب نه دی تیر شوی چي په هغه کښي لمانځه ته اهمیت نه وي ورکړه شوی لیکن له دی کبله چي هغه مذهبونه په خاصوخاصو قامونو او وختونو پوري محدود ؤ نو له هغو څخه په عملي ډول د لمانځه اهمیت ولاړ، لکه چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام نه وړاندي د نړۍ په هيڅ يو مذهب کښي د نن‌ني لمانځه يعنی د خدای ﷻ په حضور کښي د عبوديت اقرار او د هغه حمد او ثنا ته يو واضح او معين او تأکيدي حيثيت حاصل نه دی يعنی د کوم يو مذهب د پيروانو بلکه د ملهمانو د عمل څخه هم د لمانځه دا صورت نه څرګنديږي او نه لکه څنګه چي تيرشول، د قرآن له مخي په نړۍ کښي کوم داسي پيغمبر نه دی راغلی چي هغه ته دي د لمانځه حکم نه وي ورکړ شوی، او هغه د لمانځه تاکيد نه وي کړی، مګر موجوده حيثيت دا دی چي پرته له اسلام څخه لمونځ په بل هيڅ کوم يو مذهب کښي په څرګند او واضح او مؤکد صورت کښي باقي نه دی پاته شوی او د دې کار سبب دا دې چي له دې کبله چي محمّد ﷺ نړۍ ته د خاتم الانبياء او قرآن مجيد د خاتم الکتب السماويه په حيث راغلی دی نو دې الٰهي فريضې ته د اسلام په کامل دين کښي يو داسي منظم او واضح او مؤکد او څرګند صورت ورکړشويدی چي هغه ترقيامته پوري په نړۍ کښي قايم او باقي پاته شي.

لمونځ د اسلام هغه فريضه ده چي له دې فريضې هيڅ کوم يو متنفس مسلمان هم تر څو چي د هغه هوښ او حواس باقي او په ځای وي په هيڅ حالت کښي نه شي معاف کيدلای ، په قرآن مجيد کښي د سلو وارو څخه ډير د لمانځه تعريف او ستاينه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لمانځه د په ځای او ادا کولو کښي سستی او تنبلي او کاهلي د نفاق علامه او د لمانځه پریښول او نه کول د کفر نخښه ښودل شویده.

لمونځ د هغي فریضې نوم دی چي د اسلام سره یو ځای او ملګری پیدا شوی او تکمیل یې د قدس په هغه شبستان کښي وشو چي په خلګو کښي د معراج په نوم یادیږي.

په اسلام کښي لمړی فرض ایمان او د ایمان لوازم دي، او د ایمان نه وروسته دوهم فرض لمونځ دی لکه چي د سورة روم په ځلرمه رکوع کي لمړی دا حکم ورکړشو.

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ﴿٣٠﴾ .٣سورة

یعنی خپل مخ د هرڅه څخه وګرځوه د توحید په دین یې سم کښیږده هم هغه د الله فطرت چي په دغه فطرت هغه خلګ جوړ او پیدا کړیدي.

دینه وروسته دوهم ځل دې سره ملحق حکم دا دی:

وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٣١﴾ .٣سورة

یعنی او لمونځ قائم وساتئ او له مشرکانو څخه مه کیږئ.

له دې پاک آیت څخه خو یو د توحید او ایمان نه وروسته له ټولو مهم شی لمونځ ثابتیږي او بله ورڅخه دا خبره معلومیږي چي د لمونځ د پریښوولو په صورت کښي په کفر او شرک کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګرفتاره کیدلو ویره ده، او دا ځکه چي ترڅو موږ د زړه کیفیت د دبادنیو اعمالو په ذریعه زیات او ډیر نه کړو نو پخپله د هغه کیفیت سره د هغه کیفیت د زائل کیدلو ویره ملګرې اوسیږي، همدا سبب دی چي حضرت محمّد ﷺ به تل د لمونځ په اهمیت ډیر زور کاوه او د لمونځ د تارک او نه کوونکي په خصوص کښي به یې د شرک او کفر ویره ښکاره کوله.

لکه حضرت محمّد ﷺ چي وویل:

"لمونځ د دین ستن ده."

او لکه څنګه چي د ستنی په لویدلو او لیري کیدلو عمارت او ودانۍ غورځیږي همدغه راز د لمانځه په نه کولو او پریښودلو د زړه دینداري هم رخصت کیږي په هغه وخت کښي چي د طائف یو وفد (هیئت) او جرګه مدینې منورې ته راغلله او د روغي په خبرو اترو یې پیل وکړ نو دغي جرګې د لمانځه او جهاد او صدقاتو څخه د ځانونو د مستثنٰی کولو غوښتنه وکړه، حضرت محمّد ﷺ د دوو وروستیو خبرو یعني جهاد او صدقاتو څخه هغوی مثتثنٰی کړل لیکن د لمانځه په خصوص یې وویل:

"په کوم دین کښي چي د خدای په حضور سر ټیټول نه وي په هغه دین کښي هیڅ خیر نشته"

حضرت محمّد ﷺ دا هم ویلی دي چي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"لمونځ د زړه رڼایي او روښانتیا ده"

او په خپل خصوص کښې یې ویلي دي:

"لمونځ زما د سترګو سوړوالی دی"

په یوه تمثیل کښې یې وویل:

"انسان تل په اور کښې سوځیږي او په لمانځه دغه اور مړکیږی دا اور د ازل د محبوب د هجر او فراق اور دی، او لمونځ هغه صفا اوبه دي چې دغه اور وروباندي مړ کیږي"

حضرت محمّد ﷺ وویل چې:

"د کفر او ایمان په منځ کښې امتیاز او بیلونکی شی یوازي لمونځ دی"

او دا ځکه چې ایمان او کفر دواړه د انسان د باطني حالت سره تعلق لري چې اظهار یې یوازې د اعمالو په ذریعه کیدلای شي د مسلمان هغه عمل چې په ورځ کښې یې څو واره خلکو ته د لیدلو موقع په لاس ورځي یوازي او یوازي لمونځ دی.

لکه څنګه چې مو مخ کښې وویل لمونځ د ایماندارو یوه فریضه ده نو لازم دی چې لمونځ کوونکی لمړی دا ایمان په معنٰی ښه پوه او خبر وي:

د ایمان معنٰی یقین او باور دی، یقین او باور تر هغو پوري نشی پیدا کیدای څو د الفاظو په معنٰی و نه پوهیږو، نو ضرور

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چی په معنٰی د کلمهٔ طیبې او آمنت بالله او په معنٰی د لمانځه ځان پوه او خبر کړو.

ایمان اقرار کول دي په ژبه سره او په هغه باندي تصدیق کول دي په زړه سره نو اقرار به کوي په ژبه چي

"لَآ اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه"

یعني نشته بل معبود برحق لائق د عبادت بیله یو الله ﷻ څخه او محمّد ﷺ په حقه سره د الله ﷻ رسول او استاذی دی. په دغه اقرار باندي به په زړه سره تصدیق کوي یعني دا اقرار به د زړه په صدق سره کوي. بیا به د زړه په صدق سره دا اقرار کوي:

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلٰئِكَتِه وَكُتُبِه وَرُسُلِه وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِه وَشَرِّه مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ.

**ژباړه**: یقین او باور لرم چي الله ﷻ یو (۱) دی شریک نلري په ذات او په صفاتو کښي او باور لرم پر ملائکه ؤ چي د الله تعالٰی معصوم بندګان دي نورانی دي له نوره پیدا دي د الله تعالٰی د اوامرو اطاعت کوي او سرکښي نه کوي، او باور لرم پر رسولانو د الله ﷻ چي هغوی په حق سره الله را استولي، څه چي هغوی ویلي هغه رښتیا دي، هغوی له نبوت نه مخکي او وروسته معصوم دي، شمیر یې یو سل او څلېرویشت زره (۱۲۴...) کم و زیات دي، ایمان او باور لرم پر کتابونو د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالیٰ ﷻ چې څلور(۴) کتابونه دي انجيل، زبور، تورات او آخر کتاب قرانٰ مجيد دی چی پر خاتم الانبياء محمّدبن عبدالله نازل شوی او تر قيامته له تحريفه محفوظ دی ، ايمان او باور لرم د آخرت پر ورځ چې د سور له دوهمه پوکه وروسته چې د مخلوقاتو د اعمالو د حساب او موازنې ورځ ده، او باور لرم چې خير او شر او د هغه اندازه د الله ﷻ له طرفه دي، او باور لرم په پاځون وروسته له مرګه د سور له دوهم پوک سره.

څرنګه چې مخ کښې مو وويل چې په اسلام کښې له توحيد نه وروسته لمونځ فرض دې او دلمانځه ادا کول د هر مسلمان د زړه معراج او د خپل خدای ﷻ راز او نياز دی نو ضرور دی چې په بشپړ پاکۍ او تطهيرسره و خپل رب ته ودريږو الله ﷻ فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ بِرُءُوسِكُمۡ وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِۚ ﴿٦﴾

يعني ای د ايمان څښتنانو کله چې لمانځه ته پاڅيږئ نو وينځئ تاسي مخونه خپل او لاسونه خپل تر څنګلو پوري (سره له څنګلو) او مسح وکړئ تاسي پر سرونو خپلو او وينځئ تاسي پښې خپلي تر پړکيو پوري (سره له پړکيو) ۵ سورة

**اودس**: د لمانځه لمړی فرض د اودس تازه کول دي، پخپله په اوداسه کښې څلور فرضونه، لس سنتونه، شپږ مستحبات،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوه آداب، شپږ نفلون او اته منهيات موجود دي چې هر يو يې ځانته تفصيل لري.

د حضرت جابرؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمائيلی دي چې د جنت کيلي لمونځ دی او دلمانځه کيلي اودس دی

[مشکوة شريف د فلاح الدارين په حواله]

له حضرت عمر بن خطاب ؓ څخه نقل دی چې رسول الله ﷺ فرمائيلي دي، کوم مسلمان چې په ډيره ښه طريقه سره اودس وکړي او له هغه نه پس د الله ﷻ د توحيد اقرار وکړي چې الله ﷻ د عبادت لائق او هيڅ يو شريک ورسره نشته، او شهادت ورکړي چې محمّد ﷺ په حقه سره د الله تعالیٰ بنده او رسول دی يعني: اَشهَدُاَنْ لآَاِلٰهَ اِلآَاللّٰهُ وَحدَهُ لاَ شَرِيکَ لَهُ وَاَشهَدُاَنَّ مُحَمداًاعَبدَهُ وَرَسُوۡ لُه ووايي د جنت دروازې ورته خلاصي شي په کومه دروازه چې غواړي جنت ته داخليدای شي.

[مسلم شريف، مشکوة شريف د فلاح الدارين په حواله]

د احاديثو په کتاب کښي داودس نه وروسته د دغه دعا د ويلو فضليت هم بيان شويدی:

اَللّٰهُمَّ اجعَلِنی مِنَ التوابِينَ وَجعَلِنی مِنَ الْمُتَطَهِرِينَ وَ جَعَلِنی مِن عِبادِکَ الصالِحِين.

همدارنګه د مشکوة شريف د لمړی جلد د طهارت په باب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېي د اودس نه پس د دغه دعا فضيلت هم بيان شويدی:

اَللهُمَّ كَمَاطَهَرتنابِالْماءِ فَطَهِرنامِنَ الذُنُوبِ، اَشهَدُاَن لا الهَ الا اللهُ وَحدَهُ لاشَرِيكَ لَهُ وَاَشهَدُاَنَّ مُحَمدًا عَبدَهُ وَرَسُولُه.

**د اودس فرضونه:**

(۱) د ټول مخ پريمنځل ديوه غوږ د نرمۍ څخه د بل غوږ تر نرمۍ پوري او د تندی د ويښتانو د شنه کيدو له ځای څخه بيا د زني لاندی د ويښتانو د شنه کيدو تر ځای پوری.

(۲) د لاسو پريمنځل تر څنګلو پوری.

(۳) د سر د څلرمي برخی مسح کول.

(۴) د پښو ويځل د ښنګريو سره.

**د اودس سنتونه:**

(۱) د اودسه په شروع کښې بِسمِ اللهِ الرحمٰنِ الرحِيم ويل.

(۲) مخکی له هغه چی په لوښی کښې لاسونه د ننه کړی د دواړو لاسونو پريولل تر مړوندو پوری.

(۳) مسواک وهل، که مسواک نه وُ د شهادت په ګوته سره د غاښو وينځل هم کفايت کوی.

(۴) په خوله اوبه لغړول او غړغړه کول.

(۵) په پوزه اوبه سوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٦) په هغه لامده لاس چي د سرمسح په شوي وي د غوږو مسح کول.

(٧) د ږيري خلالول د لاس په ګوتو سره چي ږيره ګڼه نه وي ځکه چي د ګڼی ږيری خلالول فرض دي.

(٨) د ټول سر مسح او دغاړی مسح کول، همدارنګه د پښو د ګوتو خلالول که د پښو ګوتي يو پر بل مښتي وي نو خلالول يې د لاس په خمچه ګوته سره فرض دي.

(٩) استنجاء وهل د چول په ډبره يا په لوټه يا ريګ يا پنبه يا هر هغه شی سره چه د پنبه له جنس څخه وی.

(٢١) استنجاء وهل په اوبو سره که اوبه موجودی وي په داسی شرط سره که نجاست د راوتلو له ځای څخه تر يوه درهم لږ وي او که نجاست له يوه درهم تر انداز زياد وی نو بيا استنجاء واجب ده، که نجاست د مقعد څخه پرته نور بدن د يوه درهم په اندازه مردار کړي نو بيا استنجاء وهل فرض دي.

**د اودس مستحبات:**

(١) د اودس نيت کول.

(٢) د اندامونو پرله پسي پريولل.

(٣) په راسته اندامو شروع کول.

(۴) په هغه ترتيب چي په قرآن کي ذکر شوي د اندامو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پریمنځلو رعایت کول.

(۵) د لاسونو او پښو د پریللو په وخت کې د ګوتود سرو څخه شروع کول.

(٦) د غاړې مسح کول په نویو اوبو سره (دغاړې د مسح په وخت کښې باید ګوتې کښته د ستونې خواته راکش نه کړه شي).

**د اودس آداب:**

(۱) د اودس تازه کولو په وخت کښې پرته له هغو دعاګانو چې په احادیثو کښې ذکر شویدې باید نوري هیڅ خبري و نه شي او د هر اندام پریولل ځان ته دعا لري.

(۲) په خوله او پوزه په راسته لاس سره اوبه لغړول او په چپه لاس سره د پوزي سوغل.

(۳) د اودس تازه کولو په وخت کښې پر لوړ ځای کښیناستل چې د اودس د استعمال شوو اوبو ثاڅکی پر جامو او بدن و نه لګیږي.

(۴) که عذر نه وي د لمانځه د وخت ترمخ اودس تازه کول.

(۵) د اودس تازه کولو په وخت کښې قبلې ته مخامخ کښینستل.

(٦) د پریوللو په اول وار د اندامونو موښل.

(۷) اودس د بل چا د کمک نه پرته تازه کول.

**د اوداسه نفلونه شپږ دي:**

(۱) د هر اندام د پریوللو په وخت کښې هغه دعا ویل چې په حدیث کي راغلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د ضرورت د رفع کولو ځای (بیت الخلاء) ته د ورتګ په وخت کښې په کیڼه پښه داخلیدل او د را وتلو په وخت کښې په راسته پښه راوتل.

(۳) پر مځکه یا دیوال باندي د لاس موښل.

(۴) د بیت الخلاء څخه د فراغت نه وروسته او د را وتلو نه مخ کښې د عورت پټول.

(۵) د اودس تازه کولو په وخت کښې د ساعت، وښي، بنګړي او داسي نورو شیانو ښورول چي کوم ځای وچ پاته نه شي.

(٦) د ګوتو په ذریعه سره پر خښتګ اوبه پاشل.

**د اودس منهیات اته دي:**

(۱) د اوبو په استعمال کښې اسراف کول.

**حدیث:** عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه ان النبي صلی الله علیه وسلم مَرَّ بِسَعدٍ و هو یَتَوضا فَقَالَ مَاهٰذا السرَفُ یَا سَعد؟ قَالَ افِی الوضُوء سَرَفٌ ؟ قَالَ نَعَم و اِن کُنتَ عَلٰی نَهرٍ جَارٍ.

[رواه احمد و ابن ماجة مشکوة ص ۴۷]

**ژباړه:** له حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه څخه روایت سویدی چي بېشکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم پر حضرت سعد رضی الله عنه باندی را تیریدی په داسي حال کي چي ده (حضرت سعد رضی الله عنه) اودس تازه کاوه نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائل دا څه اسراف دی ای

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعده ؟ نو هغه ورته وويل ايا په اوداسه کی هم اسراف سته ؟ و يې فرمائل هو که څه هم پر جاری ويا له يې.

(۲) په چپه لاس سره خوله او پوزه پريولل.

(۳) په مسجد کښې اودس تازه کول، که په مسجد کښې د اودس تازه کولو دپاره ځای جوړ وي يا د اودس دپاره هلته لوښي موجود وي اودس تازه کول پروانلري.

(۴) په مردار ځای کښې اودس تازه کول.

(۵) بيله موزو پر پښو مسح کول ځکه چې دا عمل د شيعه ګانو او روافضو دی.

(٦) د استنجاء په وخت کښې خپل عورت بل چاته لوڅول.

(۷) په ښي لاس سره استنجاء وهل.

(۸) استنجاء وهل په هغه مايعاتو سره چې انسان يا پيری يا څارويو غذا يا شفا ورکوونکی وي، يا په هغه سره ضرر رسيږي او صفايي نه په حاصليږي.

**د اودس تازه کولو طريقه**: وروسته له استنجاء څخه به و قبلې ته مخامخ کښيني او درې (۳) ځله به لاسونه تر مړوندو پورې پريوينځي او د پريولو په وخت کښې به دا دعا ووايي:

بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ والحَمدُ لِلّٰهِ عَلٰى دِينِ الاِسلامِ.

بيا به د مسواک وهلوسره دا دعا ووايي او درې واري به

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبه په خوله وغړوي:

اَللّٰهُمَّ اَعِنِى عَلٰى تِلاوَةِ الْقُرآنِ ذِكرِكَ وَشُكرِكَ وِحُسنِ عِبَادَتِكَ.

بیا به درې ځله په پوزه اوبه سونږ کړي او په چپ لاس به یې سوغ کړي او دا دعابه ووايي:

اَللّٰهُمَّ اَرِحنِى رَائِحَةَ الجَنَّةِ وِلاتُرِحنِىْ رَائِحَةَالنّارِ.

بیا به لپه د اوبو ډکه او داسي به یې پرمخ واچوي چي اوبه پر مخ وبهیږي د تندي د ویښتانو د شنه کیدو د ځایه څخه بیا تر زني لاندي دویښتانو د شنه کیدو تر ځایه پوري او د یوه غوږ د نرمۍ د بل غوږ تر نرمۍ پوري او مخ به موږي او بیا دوهمه او دریمه لپه اوبه پر مخ واچوي او د مخ د پریولو په وخت کښي به دا دعا ووايي:

اَللّٰهُمَّ بَيِّضْ وَجهِى يَومَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَ تَسوَدُّ وُجُوهٌ.

نارینه ته ښايي چي د مخ پریللو په وخت کي ږیره ښه خلال کړي، بیا به ښی لاس له څنګلوسره ښه پریوینځي او دا دعا به ووايي:

اَللّٰهُمَّ اَعطِنِى كِتَابِى بِيَمِينِى وَحَاسِبنِى حِسَابًايَسِيرًا.

بیابه کینږ لاس په عین ترتیب د څنګلوسره پریولي او دا دعا به ووايي:

اَللّٰهُمَّ لاَ تُعطِنِى كِتَابِى بِشِمَالِى وَلاَمِن وَرَاءِ ظَهرِى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د سر مسح کول په داسي ترتیب سره چي اوبه پر لاسو واچوي د دواړو لاسو د خمچو او دوو نورو ګوتو سرونه به یو ځای وموښلوي چي ټولي شپږ ګوتي سي او د هر لاس دوې پاته ګوتي (د شهادت او بټي ګوتي) به لیري ونیسي نو شپږ یو ځای سوي ګوتي د دواړو لاسو د اورغویو سره به پر تندي کښېږدي نو دواړه لاسونه به پورته پر سر کش کړي تر څټ پوري به یې ورسوي او بیرته به اورغوي د څټ څخه تر تندي پوري را کش کړي او دا دعا به ووايي:

اَللهُمَّ اَظِلنِی تَحتَ عَرشِكَ یَومَ لاَظِلَّ اِلاَّ ظِلِّ عَرشِكَ

په یاد ولره هغه چي د هر لاس هغه دوې ګوتي چي لیري نیول شوي وې و نورو تازه اوبو ته ضرورت نلري په هم هغو ګوتو غوږونه مسح کړئ یعنی د شهادت په ګوتو سره دغوږو قاتونه او په بټو ګوتو سره د غوږو شا ښه مسح کړئ او دا دعا به ووایې:

اَللهُمَّ اجعَلنِی مِنَ الذِینَ یَستَمِعُونَ القَولَ فَیَتبِعُونَ اَحسَنَهُ.

بیا د غاړی مسح کول په دې شکل چي د دواړو لاسونو د مابین درې ګوتي به په اوبو لندې کړي او د ګوتو چپ مخ به پر غاړه کښېږدي او بس، پورته یا کښته کشول یې لازم نه دی نو دا دعا به ووايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَللهُمَّ اَعتِق رَقَبَتِی مِنَ النارِ.

وروسته به ښی ښپه له پنډیو سره دري ځله پریولئ او د لاس په خمچه ګوته به د ښپې د ګوتو ماینونه ښه خلال کړئ او دا دعا به ووايي:

اَللهُمَّ ثَبِت قَدَمَيَ عَلَی الصِرَاطِ یَومَ تَزِلُّ فیهِ الاَقدَامُ.

بیا به چپه ښپه په عین ترتیب سره پریولي او دا دعا به ووايي:

اَللهُمَّ اجعَل ذَنبِی مَغفُوراًوسَعیِی مَشکُوراًوَ تِجارَةً لَن تَبُورَ.

**یادونه**: په اودا سه کښې پورته ذکر شوي دعاوي که څه هم د (نورالایضاح) په حاشیه، د پښتو(معلم الدین) او د پارسي ژبې ایراني چاپ (رسالۀ توضیح مسائل) کښې ذکر شویدی د اسلام د مقدس دین او د اودس د شرطونو او رکنونو څخه نه دی یوازې د الفاظو په لحاظ معتبر دي په دین پوري تړاو نلري او نه باید د دین جز وبلل شي، که څوک يې د اودس تازه کولو په حالت کښې و نه وايي هیڅ کوم تقصیر نشته.

که دچا ښپې پټې وي موزې يې په ښپو وي نو د لاس په ګوتو او تازه اوبو سره به يې مسح کړي چې تفصیل به يې وروسته راشي، کله چې اودس تازه او مکمل شو نو د اودس پر ځای دي ولاړ ودریږي او دا دعا دي ووايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَللهُمَّ اجعَلنِی مِنَ التَوَّابِینَ وَاجعَلنِي مِنَ الْمُتَطَهِرِینَ وَ اجعَلنِی مِن عِبَادكَ الصا لحِینَ.

**پر موزو مسح کول**: د څرمني جوړي شوي موزې یا داسي پُنډي او ټینګي جرابي چي د څرمني تلي ورته لګیدلي وي او د درو یا څلورو میلو په اندازه پیاده تګ پکښي وشي او و نه شلیږي مسح پر کول روا ده، بوټونه هم د موزو پشان دي خو شرط دا دی که بوټونه وي که موزې باید له څرمني څخه جوړ او د پښو پُنډۍ (بوجلکي) پکښي پټي شي که پُنډۍ پټي نه کړي نو پر هغو بوټو او موزو مسح روا نه ده.

مسح کول پر موزو یا بوټو د فرض ادا کولو نه وروسته یوه سنت طریقه ده، یعني چي مکمل اودس تازه شي او د پښو پریوللو فرض ادا شي نو وروسته موزې یا بوټونه اغوستل او پرهغه باندي مسح کول جواز لري، د موزو اغوستل او مسح پر کول یوازی د اودس د تکمیل نه شرط نه دی بلکی د اودس د تکمیل نه مخکي یې هم اغوستلای شي او وروپسې دی نور اودس وکړي، امام قدوری (رح) چي کامل اودس لیکلي دی مقصد یې جنابت دی یعني که څوک جنوب ؤ لازم به اول اودس او بیا غسل کوي، وروسته د موزو اغوستل او مسح پر کول ورته روادي، د مسح شروع له بې اودسۍ نه وروسته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسح کول پر موزو د مسافر د پاره دري ورځي او دري شپې او د مقيم د پاره يوه ورځ او يوه شپه تا کل شويده يعني که مقيم د اودس له تکميل نه وروسته موزې په پښو او وروسته له بې اودسی مسح پر و کړي نو د سبا تر دغه وخته پوري همدغه مسح کفايت کوي، که د خوب يا بل ضرورت په وجه اودس مات شي او موزې و نه ايستل شي نو د بيا اودس کولو په وخت کښي د پښو پريوللوته ضرورت نشته بلکه پر موزو مسح کول کفايت کوي او مسح د فرض ځای نيسي، همدارنګه که مقيم پر موزو مسح وکړه يوه شپه او ورځ يې تيره شوه او اودس يې هم پر ځای وو د مسح د وخت د پوره کيدو په لحاظ يې مسح ماته ده بيا اودس تازه کولو ته ضرورت نشته يوازي به پښې وينځي چي اودس تکميل شی، عين حکم د مسافر هم دی خو يوازني تفاوت د وخت دی.

د مسح کولو طريقه ډيره آسانه ده، کله چي پسله مکمل اودس نه موزې يا بوټونه واغوستل شوه او محکمه شوه نو د راسته لاس ګوتي به په اوبو لندې کړي او د راسته پښې پر موزه د موزې د پوزي څخه شروع د موزې پر ټول مخ راکش کړي بيا به د همدغه لاس ګوتي لندې کړي د موزې د پندي څخه و لوړ طرف ته کش کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدغه ترتیب به د چپ لاس په گوتو د چپې پښې موزه مسح کړي، که د چا موزه یا بوټ دومره څیري وو چي د پښې د درو گوتو په انداز د پښې پوست ورڅخه معلومیدی نو پر هغه مسح روا نه ده، همدارنگه که بوټ یا موزه څیري وه او اوبه ورننوتلې او پښه په لنده شوه نو مسح ماته شوه، که پر موزو مسح شوي وه او د غسل ضرورت پیدا شو د غسل په وخت کښي پښی لوڅي کړي او د نور بدن غسل یې وکړ صحت نلري او غسل نه صحیح کیږي، ضرور به موزې باسي په ښه توگه سره به غسل کوي بیا به موزې په پښو کوي او مسح به پر کوي.

**تیمم**: که چیري د چا اودس نه وو او اوبه هم د یوه مایل (میل) په اندازه ورڅخه لیري وي یا د وخت د کموالي په سبب اوبو ته رسیدلی نه شو ، یا مریض وو او د اوبو استعمال ضرر ورته رساوه یا سلواغه، رسۍ او نور اسباب ورسره نه وو چي د څاه یا ډنډ څخه اوبه راوباسي، یا د دښمن ویره ورسره وه، یا د درنده گانو ویره ورسره وه، یا اوبه ورسره وې خو هغه د څښلو وې خو په دښت کښي وو د تندي او هلاکت څخه د ساتلو په خاطر یې په هغه اودس نه کاوه نو تیمم وهل په پاکه خاوره د اودس حکم لري.

په تیمم کښي نیت کول فرض دی چي وایې به (نیت کوم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه له اخلاصه تیمم وهم په پاکه خاوره چي عبادت راته روا شي)
بیابه دواړه لاسونه د ښنګلو سره لوڅ کړی او د دواړو لاسونو
ګوتي او خپړي به پر خاوره باندي ووهي او بیا به دواړه لاسونه
یو د بل سره داسي وڅنډي چي د خپړو مخ د ځمکې خوا ته وي نو
اول به په دواړو لاسونو مخ مسح کړي لکه په اوبو چي یې
وینځي، د مخ د مسح په وخت کښې احتیاط په کار دی چي هیڅ
ځای بیله مسحي پاته نه شي؛ دوهم ځل به بیا په عین شکل ګوتي
او خپړي په پاکه خاوره ووهي او په لمړني ترتیب به یې وڅنډي
نو اول به ښی لاس په کیڼ لاس سره او بیا به کیڼ لاس په ښي لاس
سره مسح کړي او بیا به د یوه لاس ګوتي د بل لاس په ګوتو کښې
داخلي کړي.

احتیاط په کار دی چي د تیمم په وخت کښې ساعت،
بنګړي، وښي او داسي نور شیان لیري کړي، که څه هم تیمم د
جنابت یا د حیض وي خو تیمم وهل باید په داسي شي سره وي
چي د ځمکي له جنس څخه وي.

ټول هغه عبادات چي په اودس سره روا دي په تیمم سره هم
روا دي، په کوموشیانوسره چي اودس ماتیږي په هغوسره تیمم
هم ماتیږی، علاوتاً که پر اوبو قدرت پیدا شی نو تیمم ماتیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اودس ماتونکي**: د اودس ماتونکې نهه (۹) دي:

(۱) د انسان له دوو لارو (مخ یا شا) د هري لاري څخه چي یو شی راووزي لکه نجاست، باد، ادرار یا داسي نور یا بیله دغو دوو لارو څخه د بل ځای څخه نجاست راووزي اودس ماتیږي، البته د مخي له خوا باد وتل اودس نه ماتوي.

(۲) په ډکه خوله قی (استفراق) وهل.

(۳) خوب کول ستوني ستخ یا په اړخ یا په تکیه سره.

(۴) په هغه لمانځه کښي چی رکوع او سجده ولري په زوره (قهقهه) سره خندل، د جنازې لمونځ چي رکوع او سجده نلري په قهقهه خندا سره فاسد کیږي خو اودس نه په ماتیږي.

(۵) لیونتوب.

(٦) بیهوښي.

(۷) داسي نشه چی بل څوک نشی پیژندلای.

(۸) د ښځي او میړه شرم بازي.

(۹) که د انسان هر اندام د ژوري په ذریعه وزبیښل شي او ژوره له وینو ډکه شي.

همدارنګه که د چاخوله ویني شوه او لاړي یې توی کړي که وینه تر لاړو ډیره وه اودس مات شو، که وینه تر لاړو کمه وه او لاړي ډیري وي نو اودس نه ماتیږي، که دواړه سره مساوي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د احتیاط په خاطر اودس تازه کول ښه کار دي.

که څوک په بې اودسي کښې شکمن سو او مخکي يې اودس درلودی نو اوس اودس ورباندی نشته.

**د حیض بیان**: حیض د بالغې ښځي له رحیم څخه د عادتي ويني بهيدل دي يعني هره مياشت چي د ښځي د شرمګاه د ځای څخه عادتي وينه راځي حيض بلل کيږي چي موده يې دري ورځي او شپې او زياته موده يې لس ورځي او شپې ده.

که له ښځي څخه د وينو توئيدل تر درو ورځو او شپو کمه وه يا تر لس ورځو او شپو زياته وه نو دا حيض نه بلکه استحاضه (مريضی) ده.

حائضه ښځه به د خوړلو روژو قضا راوړي او د لمانځه قضا ورباندي نسته.

**غسل**: غسل هم د طهارت مهمه برخه ده چي دري قسمونه لري فرض غسل، واجب غسل او سنت غسل چي د هر قسم تفصيل به وروسته بيان شي.

غسل دري فرضونه او شپږ سنتونه لري:

(۱) دري واره د خولې پريولل په ښه ترتيب سره.

(۲) دري ځلي په پوزه اوبه سوږول.

(۳) يو ځل پر ټول بدن اوبه تويول چي ټول بدن لوند سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دغسل شپږ سنتونه:**

(۱) د دواړو لاسونو پریولل د بندو سره.

(۲) استنجاء وهل.

(۳) که پر بدن نجاست وي د هغه لیري کول.

(۴) د غسل کولو دمخه اودس تازه کول.

(۵) پر ټول بدن باندې درې ځله اوبه بهول.

(٦) د پښو پریولل.

**د غسل کولو طریقه:** دغسل د مخه باید ضروري حاجات رفع کړای سي او کوشش وسي چې بل څوک د غسل کوونکي عورت و نه ویني نو اول به استنجاء ووهي که څه نجاست پر بدن وي هغه به لیري کړي بیا به ښه اودس تازه کړي نو به پر ټول بدن اوبه توی کړي د بدن هر هغه ځای چې بې تکلیفه اوبه ور رسیږي وینځل یې فرض دی لکه د غوږو شپیلۍ، د نو غار، د ورځو او بریتو پوست، د ږیري مابین، د ښځې دباندې فرج، لازم ندی چې ښځه ګوته دننه کړي، همدارنګه که ښځې سر اودلی نه وو نو د ټولو ویښتانو پریمنځل یې فرض دی که یې کوڅۍ اودلي وې نو د کوڅیو د بیخ لندول کفایت کوي ځکه د غسل د پاره د کوڅیو سپړل حرج او تکلیف دی، کومې ښځې چې د سر ټول ویښتان په کنډورو لړلي وي او د غسل په وخت کښې محضې اوبه پر تویوي اوبه د ویښتانو ویبخ ته نه رسیږي غسل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحت نه مومي نو بیا د غسل د صحت دپاره د کوڅیو سپړل فرض دی، د غسل په وخت کښې که د چا غوږوالی په غوږ وي یا یې ګوتمۍ په ګوته وي یا یې د پوزې تته په پوزه وي ښورول یې ضرور دی چې د غوږوالیو، ګوتمۍ او تتې پوست او سوریو ته اوبه ورسیږي، په نوکښې څو ځلې ګوته وهل ضرور دی، چې غسل صحت ومومي، که سترګو ته اوبه ور د ننه کړي ښه کار دی.

د غسل د ختمیدو نه وروسته چې د غسل د ځای څخه ټوله اوبه ولاړې سې نو بیا به پښې پریولې او دا دعا به ووایې:

اَللهُمَّ کَمَاطَهَرتَنِی بِالْمَاءِ فَطَهِرنِی مِنَ الذنُوبِ ط

وروسته به خپلې جامې (کالې) واغوندې او د جامو اغوستلو په وخت کې به دا دعا ووایې:

اَللهُمَّ استُرنَابِسَترِکَ الْجَمِیلِ ط

**د غسل اقسام**: فرض غسل، واجب غسل، سنت غسل.

(۱) فرض غسل : د حدث اکبر(جنابت) یا لویې بې اودسۍ څخه دپاکیدلو غسل فرض دی، د حدث اکبر د پیداکیدو څلور سببونه دی:

(ا) چې مُني په شهوت سره له خپله ځایه جدا شي او دباندې را ووزي که په خوب کښې وي که په ویښه وي، که په بې هوښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره وي او که په هوبنں سره وي، که د جماع په ذریعه وي یا د غیر جماع په ذریعه وي، که د تصور یا چرت وهلو په ذریعه وي یا په کومه بله طریقه وي.

(ب) ایلاج یعني چي د نارینه د خاص اندام سر د ژوندۍ ښځي په خاص اندام کښي ننوزي یا د ژوندي بني آدم که نر وي که ښځه د لویو بولو په ځای کښي ننوزي که مُني ورڅه راووزي او که نه راووزي که دوی دواړه بالغ وه نو پر دواړو غسل فرض دی او که یو بالغ او بل نابالغ وو نو پر بالغ غُسل فرض دی.

(ت) چي ښځه له حیض څخه پاکه شي.

(ث) چي ښځه له نفاس څخه پاکه شي.

(۲) واجب غُسل: کوم کافر چي مسلمان شي او د کفر په وخت کښي غسل وربانديي اوښتی وي یعني داسي حالت ورباندي راغلی وي لکه پر مسلمان چي غسل فرض کیږي خو هغه لمبیدلی نه وي یا لمبیدلی وي خو په شرعی طریقه نه وي لمبیدلی نو اوس غسل ورباندي واجب دی.

(۳) سنت غُسل: د امام اعظم ابو حنیفه (رح) په مذهب سنت غسلونه څلور دي.

(ا) د جمعې په ورځ د جمعې د لمانځه دپاره.

(ب) د دوو اخترو د لمانځه دپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ت) د حج د احرام د تړلو دپاره.

(ث) د عرفات په غره د عرفات په ورځ د دريدلو دپاره، مسلمان مړي په مسلمانانو لمبول فرض کفايي دی.

د لوی او مهربان الله جل جلاله د احسان حمد او شکر ادا کوو چي اودس، تيمم، حيض، نفاس او د غسل احکام مو زده کړه او اوس په کامل طهارت سره د رب العزت په پاک حضور کښي دريږو او په لمانځه شروع کوو، د لمانځه شرائط، فرضونه، واجبات، سنتونه او مستحبات زده کوو.

**د لمانځه شرطونه:**

(۱) اودس تازه کول په پاکو اوبو سره يا د ذکرشوو عذرونو په وخت کښي په پاکه خاوره سره تيمم وهل.

(۲) د جامو (کالو) پاکي له مرداری شخه که ډيره وي او که لږ.

(۳) د هغه ځای پاکي چي لمونځ پر کيږي.

(۴) د بدن پاکي له بولو يا قاذوراتو شخه يا د هغه شيانو شخه چي د بولو او قاذوراتو سره مشابهت لري.

(۵) د عورت ستر، د نارينه عورت د نامه شخه تر زنګنو پوري دي، ښځه ټوله عورت ده بيله لاسو، مخ او پښو، د مينځي عورت د نارينه په شان دی علاوتا شا او نس يې هم عورت دی.

(٦) د کعبي شريفي لور ته مخامخ دريدل که څوک د مکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریفي په حرم کښې وي نو مخ وکعبې شریفي ته ګرځول شرط دی.

(۷) د لمانځه نیت کول د زړه په صدق سره.

(۸) پیژندل د وخت دي یعني هر لمونځ ځانته ټاکلی وخت لري چه تفصیل به یې وروسته ذکر شي.

که چا یو له دغو اته (۸) شرطونو څخه یو شرط قصدًا یا سهوًا پریښود نو لمونځ یې نه صحیح کیږي.

**د لمانځه فرضونه:**

(۱) دلمانځه لمړی الله اکبر ویل چي د تکبیر افتتاح، تکبیر اُولی او تکبیر تحریمه په نومونو هم یادیږي.

(۲) قیام (ولاړه).

(۳) قرائت ویل.

(۴) رکوع کول.

(۵) سجده کول.

(٦) وروستی ناسته کول. که یو له دغو شپږ فرضونو څخه په قصد یا په سهوه سره پریښودل شي لمونځ فاسد سو نو بیرته به یې راګرځوي.

**د لمانځه واجبات:**

(۱) د الحمد لله سورة ویل تر آخره پوري.

(۲) د فرضو په لمړي دوو رکعاتونو، د وترو په ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رکعاتونو، د سنتو او نوافلو په ټولو رکعاتونو کښې د الحمد لله د سورة د قرائت وروسته متصل د قرآنکريم يو سورة ويل.

(۳) د لمانځه اوله ناسته په څلور رکعتيز او درې رکعتيز لمانځه کښې.

(۴) د څلور رکعتيز او درې رکعتيز په اوله ناسته کښې التحيات تر تشهد پورې ويل.

(۵) د سهار، ماښام، ماخوستن، جمعې او اخترونو په لمونځونو کښې د امام په لوړ آواز سره قرائت ويل.

(٦) د ماسپښين او مازديګر په لمونځونو کښې په کراره (خفيه) سره قرائت ويل.

(۷) د وتر لمانځه په آخر رکعت کښې د الحمد لله او سورة د قرائت نه وروسته متصل دعای قنوت ويل.

(۸) د اخترونو په لمونځونو کښې د تکبيرونو ويل.

(۹) د السلام عليکم ورحمت الله په ويلو سره سلام ګرځول.

(۱۰) ټول ارکان په آرامي سره کول.

(۱۱) له رکوع وروسته سيده دريدل او د دوو سجدو په منځ کښې کم تر کم د يوه تسبيح په اندازه آرام کول چې دغه عمل ته طمانينه ويل کيږي او واجب دی. البحرائق شرح کنز الدقائق]

که چا يو دغو واجباتو څخه په سهوه سره پريښودل نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهوي سجده پر واجب شوه او که یې په قصد سره پرېښوده نو لمونځ یې نقصاني شو نو اعاده به کوي (بیرته به لمونځ له سره را ګرځوي، که اعاده ونکړي نو ګنهکار دي.

**د لمانځه سنتونه:**

(۱) برابرول د صف دي په بشپړه برابري سره چي نه د اړخ د ملګري مخ ته ولاړ وي او نه شاته.

(۲) له لمړي تکبیرسره پورته کول د دواړو لاسو دي چي نارینه به د دواړو ګوتوسرونه د غوږو د نرمۍ سره برابروي، او ښځه به د بټهوګوتو سرونه له اوږو سره برابروي.

(۳) مقتدی به متصل په امام پسي نیت کوي او لمړی اَللّٰهُ اَکْبَرُ به وایي.

(۴) امام به تکبیرونه په دومره لوړ آواز سره وایي چي ورپسي ولاړ قوم یې واوري.

(۵) مستقیم دریدل د تکبیر تحریمه په وخت کښي بیله کږولو سره د سر.

(۶) د نارینه دپاره راسته لاس پر چپ لاس باندي تر نامه لاندي نیول، د ښځي دپاره راسته لاس پر چپ لاس باندي پر ځګر باندي نیول.

(۷) په اول رکعت کښي سُبحَانَکَ اللهُمَّ تر آخره پوري ویل.

(۸) د اولو رکعتو په شروع کښي اَعُوذُبِاللهِ ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۹) وړپسې بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ ويل.

(۱۰) د اَلْحَمْدُ لِلَّهِ په آخر كښې آمِين ويل.

(۱۱) كله چې امام سَمِعَ اللّٰهُ لِمَن حَمِدَهُ ووايي مقتدى به رَبَنَالَكَ الحَمدُ په كراره سره وايې، په ځاني لمانځه كښې دواړه سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ او رَبنَالَكَ الحَمدُ په كراره سره ويل.

(۱۲) په ركوع او سجده په دواړو كښې درې ځله تسبيح ويل.

(۱۳) پسله ركوع څخه مستقيم دريدل او كښينستل د دوو سجدو تر منځ.

(۱۴) ايښودل د دواړو لاسو پر ورنو باندې په مابين كښې د دوو سجدو لكه د التحيات په حالت كې سره د غوړولو د چپه پښې او جگه درول د راسته پښې د نارينه دپاره، او پر ادمو (كناټو) كښينستل د ښځې دپاره.

(۱۵) يوازې اَلْحَمْدُ لِلَّهِ ترآخره پورې ويل د فرضو په آخرو دوو ركعتو او د ماښام د لمانځه په آخر ركعت كښې يعنې د قرآنكريم بل سورة به نه ورسره وايې.

(۱٦) تهوله تكبيرونه د لمانځه ويل بيله تكبير تحريمه څخه ځكه چې هغه فرض عين دى.

(۱۷) درودونه د اَللهُمَّ صَلِّ او اَللهُمَّ بَارِك تر آخره او دعا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَللهُمَّ رَبَنَا تر آخره پوري ويل.

که يو له دغو اووه لس سنتو څخه پاته شي کوم شی نه لازميږي مګر له سنتو څخه مخالفت دی او تارک د سنت ګنهکار دی.

**د لمانځه مستحبات:**

(۱) نارينه به د تکبير تحريمه په وخت دلاسو اورغوي له لستوڼي څخه را باسي.

(۲) په قيام (ولاړه) کښي يو اځي د سجدې ځای ته کتل.

(۳) ويل د پوره سورت دي په هر رکعت کښي.

(۴) په رکوع کښي يوازي د پښو ومخ ته کتل.

(۵) په ناسته کښي يوازي خپل ځګر ته کتل.

(٦) په سجده کښي يوازي د پوزي و نرمۍ ته کتل.

(۷) د سلام ګرځولو په وخت کښي خپلو اوږو ته کتل.

(۸) دفع کول د ټوخي او ارږمۍ په قدر د طاقت سره.

(۹) د ارږمۍ په وخت کښي خوله پټه ساتل.

(۱۰) نارينه به د رکوع په وخت کښي د لاسو ګوتي خلاصوي او زنګنونه به ټينګ نيسي خو ښځه به ګوتي نه خلاصوي او پر زنګنو به لاسونه ږدي.

(۱۱) تکبير ويل د مقتدي بيله مده (اوږدوالي) څخه.

(۱۲) د ملا هموارول په رکوع کښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳) په رکوع کښې سر برابرول د اوږو سره.

(۱۴) په سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ سره له رکوع څخه سر پورته کول او په ولاړه کښې سم او مستقیم دریدل.

(۱۵) د سجدې په وخت کښې به اول زنګنونه پر ځمکه لګوي بیا لاسونه خو د لاسو ګوتي به سره نښتې وي بیا به پوزه لګوي بیا به تنده لګوي نو د لاسونو په مابین کښې به سر په سجده ږدي.

(۱٦) لیري ساتل د بازو ګانو له تخرګو (بغلو) څخه.

(۱۷) لیري ساتل د نس له ورنو څخه لاکن ښځه به نس له ورنو سره او بازوګان له بغلو سره نښلوی.

(۱۸) د پښو ګوتي وطرف ته د قبلې برابرول.

(۱۹) په تکبیر سره له سجدې نه سر را پورته کول.

(۲۰) په سجده کښې درې ځله یا پنځه ځله یا اوه ځله تسبیح ویل.

(۲۱) له سجدې څخه اول سر بیا لاسونه او ورپسې زنګنونه پورته کول.

(۲۲) کله چي له دوهمي سجدې څخه را جګ شې او ناسته کوي نو چپه پښه غوړول او ناسته وربان دي کول.

(۲۳) په ناسته کښې د لاسونو ایښودل پر ورنو باندي په خلاصو ګوتو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲۴) د سلام ګرځولو په وخت کښي په نیت کښي ولري هغه نارینه، ملائکه او صالح پیریانان چي و ښي او کیڼ طرف ته دي.

(۲۵) مسح کول دي د مخ په دواړو لاسو سره پسله سلام ګرځولو او دعا څخه.

اضافه تر دغو نور سنت او مستحب هم سته لکه دري ځله:

اَستَغفِرُ اللهَ او بیا اَللهُمَّ اَنتَ السلامُ وَمِنکَ السلامُ تَبارَکتَ یَاذَالجَلالِ وَالاِکرَامِ.

بیا دري دیرش ځله پر ګوتو:

سُبحَانَ اللهِ.

او دری دیرش ځله.

وَالحَمدُ للهِ.

او څلور دیرش ځله.

اَللهُ اَکبَر.

بیا وروسته آیة الکرسي بیا:

قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ

تر آخره پوري بیا معوذتین

(قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ او قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ)

تر آخره پوري ویل سنت او ډیر ثواب لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چا له دغو سنتو یا مسحباتو څخه کوم یو پرېښود هیڅ نه لازمېږي خو په کولو سره یې ډېر فضیلتونه شته او په نه کولو سره یې ثواب نشته.

**د لمانځه مکروهات:**

(۱) بیله عذره په لمانځه کښې چار زانو کښېنستل.

(۲) د لاس په ګوتو د قرآن د آیتو شمیرل.

(۳) د سجدې په حالت کښې د ګیدړي په څیر بازوګان لیري نیول.

(۴) په لمانځه کښې یو خوا بل خوا کتل.

(۵) بیله عذره په لمانځه کښې سترګي پټول ځکه چي دا مشابهت دی له یهودو سره.

(٦) بیله ضرورت څخه د سجدې له ځایه د وړو ډبرو لیري کول.

(۷) کاهلي ایستل په لمانځه کښې.

(۸) اربړمۍ کښل په لمانځه کښې، لازمه ده د اربړمۍ په وخت کي خوله پټه کړي که یې د اربړمۍ د مخنیوي طاقت نه وو نو که راسته لاس پرخوله ونیسي یا خول په لستوڼي پټه کړي هم باک نه کوي.

(۹) بازي کول په لاس، په ژبه او کالو سره یا د کالو پیچل په ګوتو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰) کله چي صف (قطار) کښې ځای وي او څوک شاته یوازي ودریږي.

لمونځ کوونکي ته لازم دی چي له ذکر شوو مکروهاتو څخه ډډه وکړي

**د لمانځه مفسدات**: د لمانځه مفسدات څوارلس دی.

(۱) غاړي تازه کول دي بیله عذره.

(۲)عطس (نږی) کوونکی ته د لمونځ کوونکي ځواب یَرحَمَکَ الله ویل.

(۳) فتح ورکول غیر له خپل امام څخه.

(۴) که د لمونځ کوونکی نه چا وپوښتل چي بیله معبود خدای ﷻ څخه بل خدای سته؟ که لمونځ کونکی په ځواب کي کلمه ورته وویل نو لمونځ فاسد شو که اعلان وي چي زه په لمانځه کښي یم نو لمونځ نه فاسد کیږي.

(۵) د اندام د څلورمي برخي لوڅوالی دی.

(٦) له زوره یا غصې څخه په زوره ژړل ، که له یاد څخه د جنت یا دوږخ وي نو بیا لمونځ نه فاسدیږي.

(۷) په لاس یا په ژبه سره د سلام ځواب ورکول.

(۸) که ترتیب د قضاء شوي لمانځه ساقط شوی نه وي او په لمانځه کښي ورپیاد شي.

(۹) عمل کثیر (ډیر کارکول په لاس یا په بل شی سره).

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰) خبري کول په قصد يا په سهوه سره.

(۱۱) خوړل يا چښل.

(۱۲) په لمانځه کې آه يا اُوف ويل.

(۱۳) په لمانځه کښې په قهقه سره خندل.

(۱۴) په لمانځه کښې بیهوښه کیدل.

دا ټول عملونه لمونځ فاسدوی، لازم دی چي لمونځ کوونکی له مفسداتو څخه ځان وساتي او که څوک په قصد يا په سهوه سره يو له دغو اعمالو څخه وکړي نو لمونځ يې فاسدسو بيرته راګرځول يې واجب دی.

**د سهوي سجدې**: که په لمانځه کښې سهواً يو له فرضو څخه وځنډيږي يا کوم واجب په سهوه سره پاته شي نو په لمونځ کوونکي واجب دی چي د همهغه لمانځه په آخر کښې په وروستۍ ناسته کښې له تشهد څخه وروسته په ښي طرف سلام وګرځوي او په اللّٰهُ اکبر ويلو سره سجدې ته ولاړشي او دوې سجدې وکړي په هره سجده کښې به خپل تسبيحات ووايي بيا به دوه درودونه.

اَللهُمَّ صَلِّ او اَللهُمَّ بَارِکْ.

او ورپسی به دعا داَللهُمَّ رَبَّنَا .

ترآخره پوري ووايي نو اول به پر راسته طرف سلام وګرځوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بيا به پر چپ طرف سلام وګرځوي نو د لمانځه څخه خارج شو او د سهوي سجدې هم وشوې.

**د لمانځه لفظي ترجمه**: د لمانځه نيت: د نيت معنٰی د زړه اراده (ارادة القلب) ده خوهغه څه چي د لمانځه نه مخ کښي ويل کيږي نيت بلل کيږي چي هغه د زړه د ارادې ترجماني کوي داهم بايد پياد وساتو چي که څوک په خوله نيت ووايي خو د زړه اراده يې نه وي نو نيت يې صحيح نه دی همدارنګه د چا چي په زړه کښي اراده صحيح وي خو په خوله چي څه وايي په هغه کښي سهوه شي او لمونځ په همدغه نيت وکړی لمونځ يې صحيح دی ځکه چي اعتبار د زړه ارادې ته ورکول کيږي نه هغه څه ته چي په ژبه ويل شوی وی، دا دليل د مجدد الف ثاني (رح) په [مکتوبات امام رباني] کښي ليدل شوی اوځرنګه چي اوس د نيت په هکله ترجمه وړاندی کيږي نوځکه دلته يې ليکل ضروري اومناسب وګڼل شوه.

نَوَيتُ اَن اُصَلِي لِلّٰهِ تَعَالی رَکعَتَیِ الفَرضِ فِی هٰذَاالوَقتِ الفَجرِ اقتَدَيتُ بِهٰذَا لاِمَامِ مُتَوَجِهًا الی جَهَةِ الکَعبَةِ الشَرِيفَة.

نيت مي وکړ چي لمونځ وکړم خاص خدای لره دوه رکعته فرض په دغه وخت د سهار اقتدا مي ده په دغه امام پسې مخ مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی پر لوري د کعبې شريفي.

که د جماعت لمونځ نه وو يوازي لمونځ وو نو دانيت به وايي:

نَوَيتُ اَن اُصَلِی لِلّٰهِ تَعَالی رَکعَتَيِ الفَرضِ فِی هٰذَاالوَقتِ الفَجرِ مُتَوَجِهًاالی جِهَةِ الكَعبَةِ الشَرِيفَةِ.

نيت مي وکړ چي لمونځ وکړم خاص خدای لره دوه رکعته فرض په دغه وقت د سهار مخ مي دی پر لوري د کعبې شريفي.

د سنت لمانځه نيت داسي دی:

نَوَيتُ اَن اُصَلِي لِلّٰهِ تَعَالی رَکعَتَيِ السُنَةِ فِی هٰذَاالوَقتِ الفَجرِ اِتبَاعًا لِرَسُولِ اللهِ مُتَوَجَهًاالی جِهَةِ الكَعبَةِ الشرِيفَةِ.

نيت کوم چي ادا کړم خاص الله لره دوه رکعته سنت لمونځ پدغه وخت د سهار کښي په اتباع د رسول الله مخ مي دی پر لوري د کعبې شريفي.

**مسئله**: په فرض لمانځه کښي تعين د وخت ضروري دی که وخت معلوم نه شي نو نيت صحت نلري او په سنت يا نفل لمانځه کښي د وخت تاکل شرط نه دی که وخت ذکر نشي هم صحت لري د ماسپښين، مازديګر او ماخوستن د لمونځونو په نيت کښي د رکعِتَين پر ځای اربع رکعَاتِ ويل کيږي چي د اربع معنٰی څلورده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ماښام په لمانځه کښي ثَلاثَ رَكعَاتِ ويل كيږي يعنى درې.

د ماسپښين په لمانځه كښي دهٰذَاالوَقتِ الفَجرِ پر ځاى هٰذَاالوَقتِ الظهرِ ويل كيږي، د مازديګر په لمانځه كښي هٰذَاالوَقتِ العَصر د ماښام په لمانځه كښي هٰذَاالوَقتِ الْمغرِبِ او د ماخوستن په لمانځه كښي هٰذَاالوَقتِ العِشَاءِ ويل كيږي.

اَللهُ اَكبَر

اَللهُ تعالىٰ ﷻ تر هر چا لوى دى.

سُبحَانَکَ اللهُم وبِحمدِکَ وَتَبَارَکَ اسْمُکَ وَتَعَلى جَدکَ وَلاَ اِلهَ غَيرُکَ.

پاكي ده تالره خدايه او ښه ستاينه ده تا لره او مبارک دى نوم ستا او لوړه ده لويي ستا او نسته بل خداى بيله تا څخه.

اَعُوذُبِاللهِ مِنَ الشَّيطٰنِ الرَّجِيمِ ط

پنا غواړم په الله سره له ترټل شوى شيطان څخه.

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم ط

شروع كوم په نوم سره د الله تعالىٰ چي مهربان دى په دنيا كښي پر ټولو موجداتو او مهربان دى په آخرت كښي يوازي پر مسلمانانو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢﴾ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٣﴾ مَٰلِكِ يَوۡمِ
ٱلدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ﴿٥﴾ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ
ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ
وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧﴾

ټوله ستاینې (صفتونه) خاص الله ﷻ لره دي، چي پالونکی د عالمیانو دی (د خپل لوی حکمت له مخه)، ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی، مالک د (ټولو امورو) د ورځې د جزا دی، خاص تا ته عبادت کوو، او خاص له تا څخه مرسته غواړو، وښیه موږ ته سمه لاره، د هغو کسانو لاره چي تا انعام پر کړیدی، نه دهغو کسانو لاره چي غضب پر کړل شویدی او نه لاره دهغو کسانو چي ګمراهان دي.

آمین.

ربه قبوله کړې ځما دعا.

قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ
﴿٣﴾ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ﴿٤﴾

ورته ووایه چي الله ﷻ یو دی، الله بی نیازه دی، نه یې څوک زیږولی دی او نه د چا څخه زیږیدلی دی او نشته هغه ﷻ لره سیال هیڅوک.

اَللهُ اَکبَر الله ډیر لوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سُبْحَانَ رَبِيَّ العَظِيمِ (درې ځلي)

پاکي ده زما لوی رب لره.

سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَه

الله د هغه چا اوري چي د هغه ستاینه کوي

رَبنَالَکَ الحَمدُ

زموږ ربه! تا لره ستاینه ده.

اَللهُ اَکبَر الله ډیر لوی دی.

سُبْحَانَ رَبِيَّ العَظِيمِ (درې ځلي)

پاکي ده زما لوی رب لره

اَللهُ اَکبَر الله ډیر لوی دی.

اَلتحِیاتُ للهِ والصلوَاتُ والطَیبَاتُ اَلسلامُ عَلَیکَ اَیهَا النَبِيُّ وَرَحمَتُ اللهِ وَبَرکَاتُهُ اَلسلامُ عَلَینَا وَعَلی عِبَادِ اللهِ الصالِحِینَ.

قولی عبادات، بدني عبادات او مالي عبادات یوازي الله لره دي سلام دی وي پر تا اې نبي ﷺ او رحمت د الله او برکتونه د الله تعالی دي وي پر تا، سلام دي وي پر موږ او د الله تعالی پر نیکو بندګانو.

اَشهَدُاَن لَّااَلَاهَ اَلَّااللهُ وَاَشهَدُاَنَّ مُحَمَّدًا عَبدَهُ وَرَسُولُه.

زه شاهدیم چي دالله نه پرته بل معبود نشته او شاهد یم چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محمد ﷺ د هغه ﷻ بنده او استاذی دی.**

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیتَ عَلٰی اِبرَاهَیمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبرَاهِیمَ اِنَّكَ حَمِیدٌ مَّجِیْدٌ.

ای خدایه رحمت وکړې پر محمد ﷺ او پر اولاد د محمد ﷺ لکه تا چي رحمت کړیدی پر ابراهیم علیه السلام او پر اولاد د ابراهیم علیه السلام، په رښتیا چي ته ستایل شوی یې په ښو صفاتو او لویي.

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَابَارَکتَ عَلٰی اِبرَا هَیمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبرَاهِیمَ اِنَّكَ حَمِیدٌ مَّجِیدٌ.

ای خدایه برکت وکړې پر محمد ﷺ باندي او پر اولاد د محمد ﷺ باندي لکه ځنګه چي تا برکت کړیدی پر ابراهیم علیه السلام او پر اولاد د ابراهیم علیه السلام باندي، په رښتیا چي ته ستایل شوی یې په ښو صفاتو او لویي.

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنیَا حَسَنَةً وَّ فِی الاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ.

ای خدایه زمونږ ربه راکړې مونږ ته نیک حالی په دنیا کښي او نیک حالي په آخرت کښي او وساتې مونږ د دوږخ له اوره.

اَلسَّلامُ عَلَیکُم وَ رَحمَةُ اللّٰهِ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامتي او رحمت د الله تعالى دي وي پر تاسي.

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَستَعِينُكَ وَ نَستَغفِرُكَ وَ نُؤمِنُ بِكَ وَ نَتوَكَّلُ عَلَيكَ وَ نُثنِيْ عَلَيكَ الْخَير وَنَشكُرُكَ وَلاَ نَكفُرُكَ وَ نَخلَعُ وَ نَترُكُ مَن يَّفجُرُكَ اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعبُدُ وَ لَكَ نُصَلِّيْ وَنَسجُدُ وَ اِلَيكَ نَسعٰى وَ نَحفِدُ وَ نَرجُو رَحمَتَكَ وَ نَخشٰى عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِا لكُفَّارِ مُلحِق ط

اى الله موږ له تا مرسته غواړو له تا د ګنهونو بخښنه غواړو او ايمان لرو پر تا او پر تا هر څه سپارو او ستا ښه ثنا وايو او ستا شُکر ادا کوو، او ستا د نعمتو انکار نه کوو او ځان ګوښه کوو او پريږدو هغه څوک چي ستا امر نه مني يوازي ستا عبادت کوو او ستا دپاره لمونځ کوو او تندى پر ځمکه ږدو او ستا خدمت ته مُنډي وهو او ستا په لور هڅه کوو ستا د رحمت هيله لرو او ستا له عذابه ويريږو، رښتيا چي ستا عذاب په کفارو پوري تړلى دى.

اوس چي مو د لمانځه ثبوت په ګوته کړ، د اودس فرضونه، سنتونه، مستحبات، آداب، نفلونه، منهيات او د اودس کولو طريقه، مسح، تيمم، د اودس ماتوونکي، حيض، نفاس، غسل او اقسام يې، د لمانځه شرطونه، فرضيات، واجبات، سنتونه، مستحبات، مکروهات، مفسدات، د سهوى سجدې او دلمانځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لفظي معنیٰ مو زده کړه نو د ادا کولو په طریقه (اصل عمل) شروع کوو.

## د لمانځه ادا کولو صحیح طریقه

د لمانځه له نیت کولو وروسته به ووایي:

"اَللّٰہُ اَکبَر" او له "اَللّٰہُ اَکبَر" ویلو سره به سم د دواړو لاسو بټي ګوتي د غوږو د نرمۍ سره برابري کړي نو به راسته لاس پر چپه لاس تر نامه لاندي و نیسي، ښځي به بټي ګوتي له اوږو سره برابري کړي او بیا به راسته لاس پر چپه لاس پر سینه باندي ونیسي، ښځو له په کاردی چي لاسونه له پوړني څخه د باندي راو نه باسي، نارینه به لاسونه له لستوڼي څخه را باسي.

د اَللّٰہُ اَکبَر ویلو وروسته چي لاسونه یې تر نامه لاندي یا ښځو پر سینه باندي ونیول نو دا دعا به ووایي:

سُبحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمدِكَ وَ تَبَارَكَ اسمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلا اِلٰهَ غَيرُكَ.

أَعُوذُ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿۹۸﴾

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿۱﴾ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿۲﴾ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿۳﴾ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿۴﴾ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ﴿۵﴾ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿۶﴾ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧﴾ أٰمِينٌ.

وروسته به متصل يو سورة د قرآنكريم ووايي كله چي سورة ختم شو بيا به د "اَللّٰهُ اَكبَر" په ويلو سره ركوع او په ركوع كښي به درې يا پنځه يا اوه ځلي سُبحَانَ رَبِّيَ العَظِيمِ ووايي نارينه به په ركوع كښي سر له ملا سره برابر نيسي د پښو ګوتو ته به ګوري او دواړه زنګونونه به د لاسو په خلاصو ګوتو سره ټينګ نيسي، ښځې به هم سر د ملا سره برابر او د لاسو ګوتي به نه خلاصوي پر زنګنو به يې ږدي، كله چي له ركوع نه سر راپورته كړل سو سَمِعَ اللّٰهُ لِمَن حَمِدَهُ رَبَّنَالَكَ الْحَمدُ دي ووايي او د دغه كلماتو د ويلو په وخت كښي به د ستني په شان تر هغه وخته ولاړ اوسي چي د ركوع څخه د پورته كيدو په سبب د كالو لرزه آرامه شي، لكه مخكي چي ذكرشوه دغه عمل ته "طُمَانِينه" وايي او دغه قومه (ولاړه) سره له طمَانينې (آرام) واجب ده.

بيابه د "اَللّٰهُ اَكبَر" په ويلوسره سجدې ته ولاړشي او په سجده كي به درې يا پنځه يا اوه ځلي دغه تسبيح ووايي "سُبْحَانَ رَبِّيَ الاَعلى" دسجدې كولو په وخت كښي به اول دواړه زنګونونه پرځمكه باندي كښيږدي، بيابه دواړه لاسونه په مښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوتو سره پرځمکه باندي په دومره فاصله سره کښیږدي چي نتدي او پوزه په مابین کښي پرځمکه باندي کښیښول شي چي اول پوزه او بیا تندی پر ځمکه ولګول شي.

په سجده کښي په کار دی چي ګیډه له ورنو پورته او ځنګلي له ځمکی پورته او مټي له بغلو (تخرګو) څخه لیري ونیسي، ښځو ته په کار دی چي د نارینه بالعکس نس له ورنو سره او لاسونه د بغلو سره مښتي سجده ولګوي له سجدې نه وروسته د "اَللّٰهُ اَکبَر" په ویلو سره راپورته شي او د تشهد په توګه به کښیني دومره ځنډ په دغه ناسته (جلسه) کښي واجب دی چي د کالو حرکات آرام شي یا په اصطلاح د یوه تسبیح ویلو په اندازه، بیا به په بل "اَللّٰهُ اَکبَر" ویلو سره دوهمه سجده په عین توګه وکړي او بیابه د" اَللّٰهُ اَکبَر" په ویلو سره دوهم رکعت ته ولاړشي د لمړي رکعت په توګه به یې وکړي خو سُبحَانَكَ اللّٰهُمَّ به نه وایي له بِسمِ اللّٰه او اَلْحَمدُ لله سره به سورة پیل کړي.

کله چي د دوهم رکعت له دوهمي سجدې سر راپورته کړي نارینه به راسته پښه ودروي او پر چپه پښه به کښیني او لاسونه به په خلاصو ګوتو پر ورنو کښیږدي، ښځه به دواړي پښې راسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوري ته وباسي او پرڅمکه به کښيني لاسونه به په مښتو ګوتو سره پر ورنو کښيږدي، دواړه نر او ښځه به د ناستي په وخت کښي خپلي سينې ته به ګوري او په اَلتَّحِيَّاتُ ويلو به پيل وکړي:

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَينَاوَعَلى عِبَادِاللهِ الصَّالِحِينَ اَشهَدُ اَن لاَّ اِلَهَ اِلاَّ لِلّٰهُ وَاَشهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبدَهُ وَرَسُولَه.

که لمونځ څلور رکعته وي نو به سمدستي د ''اَللّٰهُ اَكبَر'' په ويلوسره دريم رکعت ته ولاړشي او دوه رکعته به نور په عين ترتيب سره وکړي، دفرض لمانځه په وروستو دوو رکعتونو کښي له اَلحَمدُلِلّٰه وروسته بل سورة نه ويل کيږي، ليکن د سنت او نفلو په ټولو رکعاتو کښي د لمړي دوو رکعاتو په شان له اَلحَمدُلِلّٰه وروسته سورة ويل کيږي.

کله چي د دوه رکعتيز، درې رکعتيز او څلور رکعتيز لمانځه په وروستۍ ناسته کښي اَلتَّحِيَّاتُ تر عَبدَهُ وَرَسُولَه پوري ووايي نو دغه درودونه او دعا دي ورسره ووايي:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلى مُحَمَّدٍ وعَلى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيتَ عَلى

(c) ketabton.com: The Digital Library



اِبرَاهِيمَ وَّ عَلٰی اٰلِ اِبرَاهِيمَ اَنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ؛ اَللّٰهُمَّ بَارِك عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكتَ عَلٰی اِبرَاهِيمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبرَاهِيمَ اَنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنيَا حَسَنَةً وَّ فِی الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ

بیا به اول پر راسته اوږه دوهم پرچپه اوږه د اَلسَّلاَمُ عَلَيكُم وَّرَحمَةُ اللّٰهِ په ویلو سره سلام وګرځوي.

د سلام ګرځولو په وخت کښې به د هغه اړخ لمونځ کوونکي او ملائکې په نظر کښې ونیسي.

د لمانځه په ادا کولو کښې باید لمونځ کوونکی د لمانځه متن په دومره کراره سره ووایي چي پخپله یې اوري او بل څوک یې نه اوري او د لمونځ کوونکي خوله او شونډي باید د هر حرف او کلمې په ادا کولو سره وښوري تر څو کلمات صحیح ادا شي.

## اذان او اقامت

کله چي د لمانځه وخت داخل شي نو د همهغه وخت د لمانځه د ادا کولو له پاره اذان ضروري دی او د وخت د داخلیدو ترمخه اذان کول صحیح نه دي او اذان او اقامت د عربي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاصو کلماتو ويل کيږي، له رسول الله ﷺ څخه روايت شوی دی
"که په بله ژبه يا د عربي ژبي په نورو کلماتو اذان او اقانت وشي
که څه هم اوريدونکي له هغه څخه د اذان او اقامت مطلب واخلي
درست نه دی"

مؤذن بايد عاقل، بالغ او نارينه وي، د ښځي، ليوني او
ماشوم اذان صحت نلري او هم مؤذن بايد له بي اودسي څخه
خلاص او په کامل تطهيرسره په يوه لوړ ځای ودريږي او مخ د قبلي
خواته برابر کړي او د دواړو غوږونو سوري د شهادت په ګوتو
بند کړي او په پوره طاقت او لوړ آواز دغه لاندني کلمات ووايي.

| | |
|---|---|
| اَللّٰهُ اَکبَر | (څلور ځلي) |
| اَشْهَدُ اَن الاَّاِلٰهَ الاَّاللّٰه | (دوه ځلي) |
| اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًرَّسُولُ الله | (دوه ځلي) |
| حَيَّ عَلَى الصَّلاة | (دوه ځلي ښي طرف ته) |
| حَيَّ عَلَى الفَلاح | (دوه ځلي کيڼ طرف ته) |
| اَللّٰهُ اَکبَر | (دوه ځلي) |
| لاَاِلٰهَ الاَّاللّٰه | (يو ځل) |

"د حَي على الصلاة" ويلو په وخت کي به مخ و راسته طرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ګرځوي مګر چي سينه او پښې له قبلې څخه ونه ګرځي او د "حَي على الفلاح " ويلو په وخت کې به مخ و چپه لور ته ګرځوي، د سهار په اذان کي به د حَي علي الفلاح څخه وروسته اَلصلوٰةُ خَير مِنَ النوم دوه ځلي ووايي، اذان کوونکی به د جملې د پوره کولو وروسته دومره دمه وکړي چي اوريدونکي هغه جمله ورپسې تکرار کړای سي ځکه چي رسول الله ﷺ فرمايي:

"اِذَاسَمِعَ اَحَدُكُم النِّدَاءَ فَليَقُل مَايَقُولُه الْمُؤَذّنُ"

يعنی کله چي يو له تاسو څخه اذان واوري نو څه چي مُؤذن وايې هم هغه دی ورپسې وايي.

د اقامت کولو همدغه طريقه ده خو په لاندي توګه د اذان سره توپيرلري:

(١) اذان له مسجد نه د باندي او اقامت په مسجد کي دننه کيږي.

(٢) اذان په لوړ اواز سره او اقامت په عادي آواز سره ويل کيږي.

(٣) په اقامت کي له حي على الفلاح نه وروسته قَدقَامَتِ الصَّلَاةُ دوه ځلي ويل کيږي.

(۴) په اقامت کي په غوږو کي ګوتي نه نيول کيږي او په اذان کي په غوږو کي ګوتي نيول کيږي.

(۵)په اذان کي مؤذن د حي على الصلاة او حي على ا لفلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلو په وخت کي راسته او چپه طرفونو ته مخ گرځوي په اقامت کي مخ گرځول نشته.

(٦) د اذان په ختم کي مؤذن او اوریدونکي دغه دعا وايي چي سنت ده:

اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلاَةِ القَائِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدًانِ الوَسِيلَةَ وَ الفَضِيلَةَ وَ دَرَالدجَةَ العَالِيَةَ الرَّفِيعَةَ وَ ابعَثهُ مَقَامًا مَحمُودًانِ الَّذِى وَعَد تَّهُ اَنَّكَ لاَتُخلِفُ المِيعَادَ

## په امام پسي په جماعت لمونځ کول

د جماعت په لمانځه کي ضرور دی چي یو له مقتدیانو څخه د مؤذن په صفت د امام تر شا په امام پسې اقامت وکړي او امام ته په کار ده چي پر مقتدیانو غږ وکړي چي صفونه برابر کړي او یو بل ته نژدې سي نو مقتدیان به هم د پښو گوتي پر یوه خط سره برابری کړي او داسي به ځنگ پر ځنگ سي چي ځنگلي يې یو د بل سره مښتی وي کومه فاصله يې په مابین کي نه وي.

بیا به نیت وتړي او د الله اکبر په ویلو سره به لاسونه تر غوږو پوري اوچت کړي او تر نامه لاندي به يې ونیسي، مقتدیان به هم نیت وکړي د الله اکبر په ویلو سره به لاسونه ترغوږو پوري اوچت کړي او بیا به يې تر نامه لاندی ونیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام او مقتدیان به ټوله په کراره سره "سبحانک اللّٰهُمَّ" تر آخره پوري، اعوذبالله او بسم الله تر آخره پوري ووايي نو به مقتديان پټه خوله ودريږي او نور څه به نه وايي، که لمونځ د جهر وو نو دامام قرآئت ته به غوږ سي او د سجدې ځای ته به ګوري، امام به سورة فاتحه (الحمدلله) ووايي د "وَالَضَّالِّين" له اوريدو وروسته به مقتديان په خفيه سره "آمين" ووايي نوامام به له سورة فاتحې وروسته د قرآن شريف يو سورة يا څو آيتونه ووايي، له قرآئت وروسته امام د الله اکبر په ويلو سره رکوع ته ځي، مقتديان به هم د الله اکبر په خفيه ويلو سره د امام په متابعت رکوع ته ولاړشي، له رکوع وروسته به امام سَمِعَ اللّٰهُ لِمَن حَمِدَهُ ووايي او مستقيم به ودريږي خو مقتديان به په عوض کي رَبَّنَا لَكَ الحَمدُ ووايي د امام په متابعت به مستقيم ودريږي، دغه ولاړی ته "قومه" ويل کيږي نور د جماعت لمونځ به مقتديان په همهغه ذکر شوې طريقه کوي صرف په ولاړه کي سورة فاتحه او په قومه کي به سَمِعَ اللّٰهُ لِمَن حَمِدَه نه وايي.

١. د امام متابعت واجب دی مقتديان به په امام پسې متصل د لمانځه ارکان پر ځای کوي.

٢. مقتدي به له امام نه مخ کي قومې، رکوع او سجدې ته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځي او نه به د هغه نه مخ کي را پاځي.

۳. که مقتدي په لمانځه کي سهوه شي نو دسهوي سجده به نه کوي

۴. مقتدې به په جهري لمانځه کي د امام د قرآئت استماع کوي چي دغه استماع واجب ده.

## لاحِق او مسبوق

لاحِق هغه لمونځ کوونکی مقتدی دی چي لمونځ يې له امام سره يوځای پيل کړی وي خو د څه عذر په وجه يو يا څو رکعتونه ورنه ولاړشي لکه په لمانځه کي چي ويده شي امام يو يا څو رکعتونه ورنه تير کړي او دی لا ويده وي يا يې اودس مات شي څو دی اودس تازه کوي څو رکعتونه ورڅخه تير شوي وي.

همدارنګه يو مقيم چي په مسافر امام پسې نيت وتړي نو هغه مقيم د امام څخه وروسته د پاته لمانځه په ادا کولو کي لاحق دی يا لکه څوک چي د يوه رکعت رکوع يا سجده د امام نه مخکي وکړي نو د دغه عمل په خاطر دغه رکعت بې کاره شو پس د دغه رکعت په اعتبار لاحق دی.

د لاحق د پاره ضرور دی چي اول هغه رکعتونه وکړي چي ورڅخه تير شويدي له هغه وروسته که دجماعت څه حصه پاته وي په هغه کي به شريک شي او که نه نو به خپل باقي لمونځ وکړي لاحق په خپل تيرشوي لمونځ کي د مقتدي په شان دی لکه څرنګه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقتدی قرآئت نه وایي همدغسي به لاحق هم قرآئت نه وایي ساکت به ولاړ وي، لکه څنګه چي د سهوي په صورت کي پر مقتدي د سهوي سجده نه واجبیږي همدغه راز پر لاحق هم نه واجبیږي.

مسبوق هغه مقتدی دی چي په جماعت کي د شریکیدو تر مخه امام یو یا څو رکعتونه ورڅخه تیرکړي وي، کله چي امام لمونځ ختم کړي نو مسبوق به سلام نه ګرځوي ولاړ به شي او تیر شوي رکعتونه به پوره کړي.

مسبوق به تیرشوي رکعتونه داسي کوي لکه یوازي لمونځ چي کوي یعني قرآئت به هم وایي او که سهوه شي نو د سهوي سجده به هم کوي، مسبوق به تیرشوي رکعتونه داسي ترتیب کوي چي اول به ډک (سورة والا) او بیا به تش رکعتونه کوي او څومره چي یې د امام سره کړي وي د هغه په حساب به قعده (ناسته) کوي یعني د هغه رکعتونو په حساب چي کوم دوهم وو په هغه کي به اوله ناسته او چي کوم څلورم وو په هغه کي به وروستۍ ناسته کوي.

**مثلاً**: د ماسپښین په لمانځه کي د چا څخه درې رکعته تیر شوي وي چي د امام سره شریک شو نو هغه به د امام د سلام ګرځولو په وخت کي سلام نه ګرځوي ولاړبه شي اوتیر شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رکعتونه به داسي وکړي:

لمړی رکعت چي وکړي ناسته به وکړي او التحيات به تر عبدهُ و رسُوله ووايي نو به ولاړشي يو رکعت به ډک او بل رکعت به تش وکړي نو به آخره ناسته وکړي سلام به وګرځوي.

که يو سړی لاحق هم وي او مسبوق وی يعني څه رکعتونه ورڅخه تيرشوي وي چي د امام سره شريک شو او د شراکت وروسته هم څه رکعتونه ورڅه تير شي نو هغه ته په کاردی چي اول هغه رکعتونه وکړي چی دې پکښی لاحق دی يعنی چي د شراکت څخه وروسته ورڅه تيرشويدي نو د دغو رکعتونو په ادا کولو کي به دې ځان داسي بولي لکه د امام سره چي لمونځ کوي يعنی قرآئت به هم نه وايي او د امام د ترتيب لحاظ به هم ساتي، وروسته که جماعت باقي وو په جماعت کي به شريک شي او که جماعت باقي نه وو نور لمونځ به پوره کړي بيابه هغه رکعتونه پوره کړي چي دې پکښي مسبوق دی.

**مثلاً**: د مازديګر د لمانځه يو رکعت تيرشوي وو چي څوک پکښي شريک شو دغه رکعت لا تير شوي نه وو چي اودس يې مات شو کله چي يې اودس وکړ او بيرته راغی نو لمونځ ختم شوي وو، نو هغه ته په کار ده چي اول دا دری رکعته د مقتدي په شان وکړي قرآئت به نه پکښي وايي او بيا به هغه رکعت را

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځوي چي په جما عت کي د شريکېدو د مخه ورڅه تيرشوي وو، هغه درى رکعتونه به عين هغه ترتيب وکړي چي امام کول يعنى قرآئت به نه وايي او د دريو رکعتو د اول رکعت وروسته به ناسته کوي ځکه چي دا د امام دوهم رکعت دى او امام قعده پکښي کړي ده، بيابه په دوهم رکعت کي قعده نه کوي، په دريم رکعت کي به بيا قعده کوي ځکه چي د امام څلورم رکعت دى او قعده يې پکښي کړېده، وروسته به هغه رکعت وکړي چه د شريک کيدو د مخه ورڅه تير شوي وو خو په دغه رکعت کي به قرآئت هم وايي ځکه چي دى مسبوق دى او مسبوق به تيرشوي رکعتونه د ځانګړي لمانځه په شان کوي، ددغه رکعت په ختم کې به قعده هم کوي ځکه چي دده آخر رکعت دى.

## په لمانځه کي د قرآن قرآئت

په لمانځه کي د قرآنکريم صحيح لوستل فرض دى چي هر حرف په خپل مخرج (د ادا کولو ځاى) کي ادا شي د ء او ع، د ح او ه، د ظ او ز، د ذ او ض او د، د س او ث او ص بايد پوره توپير وشي.

که څوک څني حروف پوره نشي ادا کولاى لکه د ح، خ او ه، ق او ک توپير نشي څرګندولاى نو هغه ته د صحيح لوستلو مشق کول لازم او ضروري دى، که په صحيح لوستلو زحمت نه ګالي نو ګنهګاردى او يو لمونځ يې صحيح نه دى، که له زحمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاللو سره سره يې هم د حروفو صحيح هجاء نه شواى کولاى نو هغه شرعًا معذور بلل شوى دى.

که څوک حروف صحيح ادا کولاى شي او په بې پروايي حروف په خپل مخرج کې نه ادا کوي نو ګنهګار او لمونځ يې نه صحيح کيږي.

کوم سورة د قرآنکريم چې په اول رکعت کې وويل شي که همهغه سورة په دوهم رکعت کې وويل شي څه حرج نشته لاکن بيله ضرورته دا عمل مکروه دى، ښه دى چې په هر رکعت کې په ترتيب سره جداجدا سورة وويل شي يعني په کوم ترتيب چې په قرآنکريم کې سورتونه ليکل شويدي په لمانځه کې همهغه ترتيب مراعات شي، نه داسي چې په اول رکعت يو سورة وويل شى او په دوهم رکعت کې د هغه نه مخکې سورة وويل شي، په لمانځه کې قصدًا بې ترتيبه سورتونه ويل لمونځ مکروه کوي.

د اول رکعت د سورة نه د دوهم رکعت د سورة د آيتونو شمير بايد زيات نه وي، له سورة فاتحې وروسته على الاقل بايد درې آيتونه وويل شي.

کوم سورة چې شروع شي بيله عذره د هغه پريښودل او بل سورة شروع کول هم مکروه دى، که چا لمونځ نه وي زده کړى يا نوى مسلمان شوى وي نو هغه به په لمانځه کې د لمانځه تر زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو پوري سُبحَانَ الله سُبحَانَ الله وايي.

على الاقل هر څوک بايد له "الم تر کيف" څخه تر "قل اعوذبرب الناس" پوري دا لس سورتونه ياد کړي او په لمانځه کي يې په ترتيب سره ووايي.

## دوِتر لمونځ

وِتر واجب دي، د واجب درجه فرضو ته نژدی ده، قضا کول يې سخته گناه ده، که قضا شي نو قضاراوړل يې ضروري حکم دی.

دوِترلمونځ درې رکعته دي، د دوهم رکعت په ناسته کي اَلتَّحِيَّاتُ تر عَبدَهُ وَرَسُولُه ويل کيږي او بيا به دريم رکعت ته ولاړ شي له الحمد لله او سورة ويلو وروسته د الله اکبر په ويلو سره لاسونه تر غوږو پورته کيږي او بيا تر نامه لاندي نيول کيږي او دغه دعائ قنوت ويل کيږي:

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَستَعِينُكَ وَ نَستَغفِرُكَ وَ نُؤمِنُ بِكَ وَ نَتوَكَّلُ عَلَيكَ وَ نُثنِي عَلَيكَ الخَيرَ وَ نَشكُرُكَ وَ لاَ نَكفُرُكَ وَ نَخلَعُ وَ نَترُكُ مَن يَّفجُرُكَ اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعبُدُ وَ لَكَ نُصَلِّى وَ نَسجُدُ وَ اِلَيكَ نَسعٰى وَ نَحفِدُ وَ نَرجُو رَحمَتَكَ وَ نَخشٰى عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِا لكُفَّارِ مُلحِقٌ ط

د وِتر په درې واړو رکعتونو کي الحمد لله سره د سورته ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي که په دریم رکعت کي د دعائ قنوت ویل هیرشو او له رکعت وروسته ور په یاد شو نو اوس دِي يې نه وايې کله چي لمونځ پوره کړي نو د سهوي سجدې دي وکړي.

که يې په هيره سره په اول یا دوهم رکعت کې دعائ قنوت ووايه نو اعتبار نلري په دريم رکعت کي به يې بيا وايي او د سهوي سجدې به هم کوي.

که د چا دعائ قنوت زده نه وي نو دا لاندي دعا دي ووايي:

اَللّٰهُمَّ رَبنا اٰتِنَا فِی الد نیَا حَسَنَةً وَّ فِی الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ

یا دي درې واري اَللّٰهُمَّ اغفِرلِی ووايي خو د دعائ قنوت یادول ضروری دي.

## د جماعت د لمانځه فضیلت او تأکید

د جماعت د لمانځه په فضيلت او تأکيد کي دومره احاديث رانقل شوي دي چي ټول سره يوځای شي يوه غټه رساله ورڅخه جوړيږي له دغو احاديثو څخه معلوميږي چي د لمانځه د تکميل د پاره جماعت ډير ضروري دی ، رسول الله ﷺ هيڅکله جماعت نه دی قضا کړی، د ناروغی په حالت کي چي د تګ طاقت يې هم نه درلود د دوو کسانو پر اوږو يې لاس تکيه کړی او جماعت ته به حاضر شو او په جمع يې لمونځ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الله تعالیٰ ﷻ ګران استاذی او د بشریت پیشوا ﷺ به د جماعت پرېښوونکي ته سخت خوابدی کيده او داسي کسانو ته يې د سختي سزاخواهش کړيدی، بيشکه په محمدي شريعت کي د جماعت د لمانځه ډير تأکيد شويدی، کوم شی چي د لمانځه غوندي اهم عبادت تکميلوي د هغه هم زيات اهتمام او پابندی په کار ده.

موږ دلته لمړی يو آية ليکو چي ډيرو مفسيرونو د جماعت د لمانځه حکم ورڅخه اخستی دی او بيا په دغه متعلق د څو احاديثو ژباړه کوو:

الله ﷻ په سورة البقره کي فرمايي وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾

او تاسي رکوع کوي له رکوع کوونکوسره، ځيني مفسرين د رکوع تفسير په خضوع سره کوي نو ځکه د جماعت فرضيت نه ورڅخه ثابتيږي.

**حديث:** د نبی کريم ﷺ څخه حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه داسي روايت کوي چي په جماعت سره لمونځ کول تر يوازي لمانځه اوه ويشت درجې زيات ثواب لري.

[مشکوة شريف ص ۹۵ اول ټوک]

**حديث:** نبی کريم ﷺ فرمايلي دي چي تر يوازي لمونځ کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بل سره په جماعت لمونځ کول ډیر ښه دی او له دوو خلګو سره په جماعت لمونځ بیا ډیر ښه دی او جماعت چي هر څومره لوی او زیات وي نو په هغه اندازه سره د الله ﷻ محبوب او خوښ دی.

[مشکوة شریف ص۹٦]

**حدیث:** انس بن مالک ﷛ روایت کوي چي د بني سلمه د قبیلې خلګو اراده وکړه چي خپل مخکني کورونه پرېږدي او د مسجد نبوی په خوا کي کورونه جوړ کړی ځکه د هغوی کورونه له مسجد نبوي څخه لیري وه کله چي نبی کریم ﷺ خبر شو نو هغوی ته یې وویل چي ستاسي په راتګ کي و مسجد نبوي ته ډیر لوی ثواب دی، نبی کریم ﷺ وفرمایل ایا تاسو د خپلو قدمو په ایښودلو کي چي پر ځمکه لګیږی د ثواب خیال نه کوي؟ ثواب یې نه بولئ؟ [مشکوة شریف ص٦٨]

**فایده:** لدغه حدیث شریف څخه معلومه شوه څوک چي د هر څومره لیري ځای څخه مسجد ته راځي هغومره زیات ثواب لری باید له فهمه ونه غورځول شي چي خپل مسجد حق لري که څه هم د جماعت لمونځ نه پکښي کیږي بیا دي هم ودغه نژدې مسجد ته ورشي اذان او اقامت دي وکړي او یوازي دي لمونځ وکړی.

[شامی احکام المساجد ص.۱۹۰ اول ټوک]

**حدیث:** رسول الله ﷺ فرمایي څومره وخت چي د لمانځه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتظار کي تير شي هغه ټول په لمانځه کي حساب دی.

**حدیث:** حضرت مرید اسلمي ﷺ له رسول الله ﷺ څخه روایت کړی دی څوک چي د شپې په تیارو کي مسجد ته ځي هغوی ته زیری ورکړئ چي د قیامت په ورځ به د دوی دپاره پوره رڼا وي.

**حدیث:** له حضرت عثمان ﷺ څخه روایت دی چي رسول ﷺ فرمایي څوک چي ماخوستن لمونځ په جماعت ادا کړي هغه ته به د نیمي شپې د عبادت ثواب ورکړل شي او څوک چي د ماخوستن او سهار لمونځونه په جماعت ادا کړي هغه ته به د ټولي شپې د عبادت ثواب ورکړل شي.

**حدیث:** له حضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چي یوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل چي زما په زړه کي راګرځي چي چا ته د لرګو د جمع کولو بل چاته د اذان او بل چاته د امامت کولو حکم ورکړم او پخپله د هغه خلګو په کورونو وګرځم چي د جماعت و لمانځه ته نه راځي نو د هغو کورو ته اور واچوم.

**حدیث:** له رسول الله ﷺ ارشاد دی چي که زما سره د ښځو او ماشومانو خاطر نه وای نو زه به په لمانځه کي مشغول شوي وای او خادمانو ته به مي امر کړی وای چي هغه څوک چي د جماعت لمانځه ته نه حاضریږي د هغوی کورونه سره د مال او متاع وسوځئ.

[صحیح مسلم]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماخوستن د لمانځه تخصيص په دغه حديث شريف کي په دغه منظور شويدی چي دغه وخت د خوب او استراحت دی او خلګ ټول په کورونو کي وي.

امام ترمذی (رح) فرمايي چي دغه مضمون ابن مسعود، ابوداود، ابن عباس او جابر رضي الله عنهما روايت کړيدی چی دا ټول جليل القدر صحابه دي.

**د قضاشوو لمونځونو د بيا را ګرځولو طريقه**

که له چاڅخه کوم لمونځ قضا شوی وي چي کله ور په ياد شی نو ژر دي يې وکړي بی سببه ځنډول يې سخته ګناه ده، که چا ژر قضا شوي لمونځ بيرته و نه کړ بلی ورځي يا بل وخت ته يې پريښود او د هغه وخت نه مخکي مړ شو نو غبرګه ګناه پرې پاته شوه، يو د لمونځ قضاء او بل د قضاء ژر نه ادا کول.

که دچاڅخه ډير لمونځونه قضاء شوي وي نو څو کولای شی ژر دي يې قضاء راوړي، دا ضروري نه ده چي د ماسپښين د لمانځه سره د ماسپښين لمونځ را وګرځوي يا د مازديګر د لمانځه سره د مازديګر لمونځ را وګرځوي، که د چاڅخه د ډيرو مياشتو يا ډيرو کلونو لمونځونه قضاء شوي وي د هغو په را ګرځولو کي دي هم جديت وکړي په يوه وخت کي دی دوه دوه يا څلور څلور لمونځونه کوي، که څه عذر نه وي نو د هرلمانځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره دی یویو قضایي لمونځ را ګرځوي.

د قضایي لمونځ د راګرځولو د پاره څه خاص وخت نشته خو دومره احتیاط باید وشي چي مکروه وخت نه وي.

هغه وختونه چي لمونځ کول پکښي مکروه دی.

۱- د لمر راختو وخت.

۲- د غرمې (استواء) وخت.

۳-د مازدیګر د لمانځه څخه وروسته تر لمرلویدو پوري.

که د چاڅخه په ټول عمر کي لمونځ نه وي قضاء شوی او س یو لمونځ ورڅه قضاء شو یا لمونځونه ورڅخه قضاء شوي وي خو هغه یې ټول را ګرځولي وي او اوس یو لمونځ پر پاته وي نو اول دی د هغه قضاء راوړي که نه نو فرض لمونځ یې نه صحیح کیږي، البته که قضایي لمونځ ورڅخه هیرشوي وو او د وخت فرض لمونځ یې وکړ وروسته قضایي لمونځ ورپیاد شو نو اوس دی یې را وګرځوي، د وخت لمونځ چي یې کړی دی بیا یې راګرځول نشته همدارنګه که وخت دومره کم وو چي که قضایي لمونځ راګرځوي د وخت لمونځ ور نه قضاء کیږي نو اول دي د وخت لمونځ اداکړي او بیا دي قضایي لمونځ وکړي.

که د چا څخه یو یا دوه یا دري یا څلور یا پنځه لمونځونه قضاء شول او نور لمونځونه یې پر غاړه نه وه پاته یعني د دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځو لمونځو پوروړی وو نو تر څو چي د دغو لمونځو قضاء يې راوړې نه وي د وخت فرض لمونځ يې نه صحيح کيږي، کله چي د دغو پنځولمونځو قضاء راوړي نو کوم لمونځ چي اول قضاء شوي وي اول به هغه کوي يیا دوهم بيا دريم بيا څلورم او بيا پنځم.

که چا د يوې ورځي پنځه واړه لمونځونه قضاء کړي وو نو هغه به اول د سهار د لمانځه قضاء راوړي بيا د ماسپښين بيا د مازديگر بيا د ماښام او بيا د ماخوستن، که يې په بل ترتيب وکړي صحيح نه دی بيرته به يې دوباره کوي. [والله اعلم بالصواب]

که د چا څخه شپږ يا د شپږو څخه زيات لمونځونه قضاء شوي وه نو هغه د دغو لمونځونو د قضاء راوړلو تر مخ د وخت فرض لمونځ کولای شي، کله چي د دغو لمونځونو قضاء راوړي نو ترتيب يې هم ضروري نه دی چي څرنگه يې خوښه وي هغسي دي يې اداکړي.

کله چي لمونځ کوونکی د شپږو قضاء لمونځو قضاء وکړي نو اوس بيا صاحب د ترتيب شو يعني که بيا د شپږو لمونځو څخه کم لمونځونه ور څخه قضاء شي نو په ترتيب به يې داسي راگرځوي لکه مخکي چي يې ذکر وشو.

که د چانه د وِتر لمونځ قضاء شي او بل لمونځ نه وي قضاء شوي نو تر څو چي د دغه وِتر قضاء را نه وړي د سهار لمونځ يې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحیح کیږي، که یې د سهارلمونځ وکړ او وروسته یې د وِتر قضاء راوړه نو د سهارلمونځ به بیرته له سره کوي.

که چاپوازي د ماخوستن لمونځ کړی وو او ویده شو بیا یې د شپې د تهجد دپاره اودس وکړ او د ماخوستن وِتر یې وکړل او سهار ورپیاد شو چې د ماخوستن لمونځ یې بې اودسه کړی وو نو قضاء به صرف د ماخوستن د لمانځه راوړي.

قضاء صرف د فرضو او وِترو راوړل کیږي د سنتو قضاء نشته، البته که د سهار لمونځ د چاڅخه قضاء شوي وي که یې د زوال څخه مخکي راګرځوي نو سنت او فرض دي دواړه وکړي ځکه چې د سهار سنت مؤکد سنت دی، رسول الله ﷺ نه په سفر کي د سهار سنت پرې ایښي دي نه په حضر کي؛ که څوک وروسته له زوال څخه د سهار د لمانځه قضاء راوړي نو صرف فرض دي وکړي.

که د سهار د لمانځه وخت دومره کم وو چې صرف دوه رکعته فرض پکي کیدای شوای نو دوه رکعته فرض دي وکړي او سنت دي له لمرختو وروسته او تر استواء تر مخه را وګرځوي.

## د جُمعې لمونځ

د جمعې لمونځ فرض عین دی د قرآن شریف او متواترو احادیثو او د امت د اجماع نه ثابت دی او د اسلام د لویو شعائرو څخه دی منکر یې کافر، بیله عذره پرېښودونکی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاسق دی، په قرآنکریم کي د الله تعالی ﷻ ارشاد دی:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٩﴾

اي د ایمان خاوندانو کله چي د جمعې د ورځی د لمانځه د پاره اذان وویل شي منډي وهئ د الله د ذکر وطرف ته او پریږدئ بیع او شرٰی (خرڅول او رانیول) دا ستاسو دپاره ښه دی که تاسو پوه شئ.

د ذکرڅخه مراد لمونځ او خطبه دي او له منډو څخه مراد اهتمام کول دي، رسول الله ﷺ فرمائیلی دي:

څوک چي د جمعې په ورځ غسل وکړي او هم د خپل طاقت سره صفایي وکړي، خوشبویي په ځان پوري کړي او لمانځه ته ولاړشي په مسجد کي څوک له خپله ځایه بیځایه نه کړي بیا چي څومره نفل چي کولای سي وه یې کړي کله چي امام خطبه شروع کړي نو په پټه خوله او کامله توجه سره دي یې واوري نو خود به الله ﷻ د تیري جمعې څخه تر دغه وخت ګناهونه ور معاف کړي. [بخاری]

په یوه بل حدیث شریف کي آنحضرت ﷺ فرمائیلي دي:

څوک چي د جمعې په ورځ غسل وکړي او مسجد جامع ته پَلی ولاړ شي خطبه واوري د خُطبې په منځ کي باطلي خبري و نه کړي نو هغه ته به د پوره یوه کال د روژو یا لمونځو ثواب ورکړه شي. [ترمذی]

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جمعې د لمانځه د وجوب شرطونه

۱- مقیم کیدل پر مسافر نشته.

۲-صحتمندي پر داسي مریض نشته چي مسجد جامع ته د تګ توان نلري.

۳- که د بوډاوالي څخه ثوک مسجد جامع ته تلای نشي یا ړوند وي.

۴- غلام چي د شریعت مطابق غلام وي.

۵-ښځه

۶-نابالغه هلک.

۷-معذور چي عذر یې د جماعت د پریښودلو دپاره معتبر وي لکه د سخت باران اوریدل یا د کوم مریض ساتنه کول یا جامع مسجد ته په تلو کي له دښمن څخه د خطر احساس کول.

## د جمعې د لمانځه د صحت شرطونه

۱-شهر یا قصبه، په صحرا یا ځنګل کي د جمعې لمونځ صحیح نه دی، البته که د صحرا آبادي درې یا څلور زره کورونه وي نو بیا د جمعې لمونځ پکښي کیدای سي.

۲- د ماسپښین د وخت داخلیدل، د وخت نه مخکي یا د وخت د تیریدو نه وروسته جائز نه دی، که د لمانځه کولو په حالت د ماسپښین وخت ختم شو نو لمونځ هم فاسد شو که څه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخیره قعده یې تر تشهد پوري کړې وي نو دغه سبب دی چې د جمعې د لمانځه قضاء نشته.

۳–خطبه یعني د امت په حضور کې د الله ﷻ ذکر کول، که څه هم سبحان الله والحمدلله وي، خو سبحان الله والحمدلله ویل او په هغه اکتفا کول د سنت طریقې مخالفت دي بیا هم لمونځ صحیح کیږي.

۴– خطبه د لمانځه ترمخه ویل، که د لمانځه تر مخ و نه ویل شي لمونځ نه صحیح کیږي.

۵– خطبه د ماسپښین په وخت کې ویل که تر وخت دمخه وویل شي نو هم لمونځ نه صحیح کیږي.

٦– جما عت: یعني د امام څخه سوا لږ تر لږه درې کسان د خطبې د شروع کیدو نه د اول رکعت تر سجدې پوري ضرور دي، خو دغه درې کسان باید قابل د امامت وي، صرف ښځې یا نابالغه هلکان نه وي، که څه هم دغه درې کسان چې خطبه یې اوریدلې وي ولاړ شي او نور درې کسان راشي.

۷–که د سجدې کولو تر مخه خلک ولاړشي او له امام سره تر درې کسانو کم پاته شي نو لمونځ به هم ولاړ شي، که له اولې سجدې وروسته ولاړ شي نو جمعه صحیح ده څه حرج نشته.

۸–عام اجازت په داسې خاص ځای کې د جمعې لمونځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول چي عام خلګوته اجازت نه وي جايز نه دی او هم که د جمعې په ورځ د جامع دروازه بنده شي چي نور خلک نشي را تلای نو لمونځ هم نه کيږي.

د جمعې د ورځي لمونځ اول څلور رکعته مؤکد سنت دي وروسته بيا د امام خطبه ويل کيږي چی اوريدل يې واجب دي بيا دوه رکعته فرض د جمعې په جمع کول او وروسته بيا څلور رکعته سنت او ورپسې بيا دوه رکعته سنت دي، چا چي د جمعې لمونځ ادا کړ نو د ماسپښين لمونځ وربانديي نشته، که د جمعې لمونځ يې نه وي کړی نو د ماسپښين لمونځ به کوي.

## مسافرانه لمونځ

د سفر قصد او په قصد سره عمل کول چي په شرعي سفر سره ياديږي په احکامو کي تغير راوړي لکه د روژې خوړل او د څلور رکعته لمونځ په بدل کي دوه رکعته لمونځ کول، که د سفر قصد نه وي چي پر ټوله نړۍ راوګرځي مسافر نه دی، همدارنګه که د سفر نيت وکړي او په سفر يې شروع کړې نه وي هم مسافر نه ګڼل کيږي، د سفر مسافه د مقصد تر ځای پوري پر وچه لار د اوبن په ميانه تګ يا پياده (پلی) ميانه تګ د درو ورځو لار ده شپه نه حسابل کيږي ځکه چي شپه د استراحت د پاره ده، په سفر کي له سهاره تر ماښامه تګ شرط نه دی ځکه چي لمونځ کول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ خوړل او استراحت کول هم په سفر کي داخل دي لکه په فتاوٰی کي چي وايي: که څوک د ورځي د سهار څخه تر ماښام پوري تګ وکړي د اسراحت ځای ته ورسيږي هلته شپه تيره کړي دوهمه او دريمه ورځ همدا شان وکړي نو شرعًا مسافر دی، په هدايه کي وايي: اندازه په فراسخو سره معتبره ده چي په ضعيف روايت يوويشت (۲۱) فرسخه او فتوٰی پر اته لس (۱۸) فرسخه ده.

که څوک د درو ورځو لار د موټر په ذريعه په لس (۱۰) ساعته کي يا د الوتکي په ذريعه په يوه ساعت کي قطع کړي شرعًا مسافر دی، د وچي د لاري تګ د اوبو د لاري سره برابر نه دی ځکه هره لار ځان ته تعين د وخت غواړي.

د امام اعظم ابوحنيفه (رح) په حکم مسافر به څلور رکعتيزه لمونځ دوه رکعته ادا کوي يعني اضافه تر دوه رکعته روا نه دی، که يې تر دوه رکعته اضافه لمونځ وکړ ګنهګار دی، که فرض لمونځ څلور رکعته داسي ادا کړي چي وروسته له اول دوو رکعتو په قدر د اَلتحياتُ ناسته وکړي نو اول دوه رکعته يې فرض او آخر دوه رکعته يې نفل شول، مګر دغه لمونځ کوونکی ګنهګار شو ځکه چي د دوو رکعتو فرضو سلام وځنډيدی، همدا رنګه که وروسته له اول دوو رکعتو ناسته و نه کړي او څلور رکعته فرض ادا کړي نو فرض لمونځ يې باطل او په نفل سره بدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو، مګر د امام محمدبن ادریس شافعي (رح) په حکم د مسافر ځلور رکعته فرض لمونځ عزیمت دی او دوه رکعته یې رصخت دی؛ د سهار او ماښام لمونځونه مسافر نه دي ځکه کموالی هم پکښې نشته، په سفر کې چې څوک آرام وي د لمانځه سنت دي نه پرېږدي، که یې تلوار وو چې موټر ورنه تلی یا د سفر ملګري ناراضه کیدل یا کوم بل داسې ستونزه وه نو سنت دي پرېږدي.

څوک چې په نیت د سفر له کوره ووزي چې د خپل ښار یا د کلي د آبادیونه تیرشي د سفر لمونځ به کوي، تر څو چې د اقامت نیت پنځه لس ورځي یا اضافه تر پنځه لس ورځو په کوم بل ښار یا کلي کې کوي، دا پنځه لس ورځي یا اضافه مذهب د امام اعظم ابوحنیفه (رح) دی چې روایات یې حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه او حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه کړیدی، د عسکر نیت د قبول وړ نه دی بلکه د امیر نیت معتبر دی، همدارنګه د ښځې نیت اعتبار نه لري د میړه نیت یې معتبر دی، د سفر لمونځ له نیت وروسته پر مسافر لازم دی، که مسافر نیت له پنځه لس ورځو نه کم وکړ نو لمونځ به پوره نه کوي ځکه چې مسافر دی یعنې د ځلور رکعته فرض پر ځای به دوه رکعته کوي، همدارنګه که د مقصد منزل ته ورسیږي او نیت د اوسیدو یې له پنځه لس ورځو نه کم وو خو پنځه لس ورځې یې تیرې کړې بیا یې هم داسې نیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو چي نن يا سبا به ځم او په دغه توګه کلونه وربانديې تير شي لمونځ به پوره نه کوي دوه رکعته د سفر لمونځ به کوي ځکه چي مسافر دی، له بهيقي څخه په صحيح سند سره روايت دی چي عبدالله بن عمر رضي الله عنه په آذربايجان کي شپږ مياشتي او حضرت انس رضي الله عنه په نيشاپور کي شپږ مياشتي تيري کړي لمونځونه يې دوه رکعته مسافرانه کول.

که کوم موټر چلوونکي کوم بل ښار ته بار وړی وي او د بيرته راتلو د پاره د بار په لټه کي وي چي نن يا سبا به بار پيدا شي لدې ښار نه ځم پدغه اميد کي مياشتي پر تيري شي لمونځ به دوه رکعته مسافرانه کوي، همداراز هغه مسافر وړونکی موټر چلوونکی چي له خپل استوګن ښارڅخه ووزي لمونځ به مسافرانه کوي کله چي بيرته خپل ښارته راشي پوره لمونځ به کوي که څه هم د اقامت نيت يې کړي نه وي ځکه چي په ښارکي د اقامت نيت ته حاجت نشته، که د استوګني ښار يا کلی بدل کړي يعنی کوم بل ښار يا کلی يې د استوګني د پاره غوره کړ بيا هغه اول استو ګن ځای ته په سفر ولاړی نيت يې له پنځه لس ورځو څخه کم وو لمونځ به پوره نه کوي ځکه چي مسافر دی.

که حاجي نيت د اقامت وکړ چي پنځه لس ورځي به په مکه شريف او منٰی کي تيروم نيت د اقامت يې صحيح نه دی ځکه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نیت کي دوه ځایه چي فاصله سره لرى وویل شوه، همدارنګه که یوازي مکې شریفي ته ورغی او په مکه شریف کي یې د پنځه لس ورځو د اوسیدو وخت نه وو د اقامت نیت یې صحیح نه دی لمونځ دي پوره نه کوي ځکه چي مسافر دی.

د امام اعظم ابو حنیفه (رح) په مذهب مسافر لره یو ځای کول د دوو لمونځو د فعل په لحاظ روا دي او د وخت په لحاظ روا نه دي یعنی مسافر ته روا دي چي د ماسپښین لمونځ د وخت و آخر ته وځنډوي او د مازدیګر لمونځ د وخت په اول کي وکړي، دغه رنګه د ماښام او ماسخفتن لمونځونه سره جمع کړي، دغه عمل په "جمع صوري" سره یادیږي.

جمع حقیقي (جمع وقتي) دوه ځایه روا ده لکه په عرفات کي چي د مازدیګر لمونځ د ماسپښین په وخت کي ادا کیږي چي د تقدم جمع بلل کیږی او د ماښام لمونځ چي د ماسخفتن په وخت کي اداکیږي چي دځنډ جمع بلل کیږي.

په احادیثو کي چي د رسول الله ﷺ د جمع روایت شویدی مقصد یې جمع صوري ده، په نورو مذهبو کي جمع حقیقي په هر عذر روا ده لکه سفر، باران، ناروغي او داسي نور.

همدغه راز د امام ابو حنیفه (رح) په مذهب په کښتۍ کي په هرحال لمونځ په ناستي روا دی مګر امام ابو یوسف (رح) او

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام محمد (رح) وايي چي بيله عذره روا نه دی.

که په سفر کي لمونځ قضاء شي او په کور کي قضاء راوړي نو د دوو رکعتو د سفر د لمونځ قضاء به راوړي، که له مقيم نه لمونځ قضاء شو غوښتل يې چي په سفر کي قضاء راوړی نو د څلورو رکتعو قضاء به راوړي، فرمان وړونکی او ګنهګار په سفر کي يو شان رصخت دي يعني دواړوته قصر د لمانځه او د روژې خوړل روا دي ځکه چي د قرآنکريم د البقره په سورة کي الله ﷻ فرمائيلي دي.

فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ﴿١٨٤﴾

يعني که څوک ستاسوڅخه په روژه کي ناروغه يا په سفر کي وي او روژه وخوري بيا د دغه روژې نيول په شمار د خوړل شووو ورځو په نورو ورځوکي پسله د روژې د مياشتي ورباندي لازم دي، په دغه آية مبارک کي د ګنهګار او فرمان وړونکي توپير نشته، په حديث شريف کي راغلي دي.

"صَلٰوةُ الْمُسَافِرِ رَكعَتَانِ"

يعني د مسافر لمونځ دوه رکعته دی.

په حديث شريف کي هم د فرمان وړونکي او ګنهګار توپير نشته امام شافعی (رح) وايي چي ګنهګار ته رخصت نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تراويح لمونځ

د روژې په مياشت کي هره شپه بيله د ماخوستن د لمانځه او وِترڅخه شل رکعته تراويح کول سنت دي.

(۱) وتر د تراويحوڅخه وروسته کول ښه دی، که چا تر مخه وکړل هم جائز دي.

(۲) په تراويح کي پسله څلور رکعتو څخه دومره وخت کښيناستل لکه څلور رکعته تراويح چي شويدی مستحب دی، که دومره وخت کښيناستل خلقوته تکليف وي نو لږ وخت دي کښيني، بيا د ناستي په وخت کي اختيار دی که څوک نفل کوي که تسبيح وايي او که هسي کښيني.

(۳) که چا د ماخوستن د لمانځه څخه وروسته تراويح کړيوي او بيا ورته معلومه شي چي په څه نسبت يې د ماخوستن لمونځ فاسد شويدی نو هغه به د ماخوستن د لمانځه سره تراويح هم بيرته را ګرځوي.

(۴) که د جماعت لمونځ چا په جماعت سره نه وي کړی نو دي تراويح په جماعت سره نه کوي ځکه چي تراويح د ماخوستن د لمانځه تابع دي.

(۵) که څوک جماعت ته په داسي وخت را ورسيږي چي د ماخوستن لمونځ شوی وي او خلق تراويح کوي نو ده ته په کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چي اول د ماخوستن لمونځ وکړي او بيا په تراويح کي شريک شي که څور کعاته تراويح ورڅخه تيري شي نو هغه دي د وترو څخه وروسته وکړي خو وتر بايد په جماعت وکړي.

(٦) د روژې په مياشت کي يوځل ټول قرآن مجيد ترتيب واره په تراويح کي لوستل مؤکد سنت دی د ټنبلۍ په سبب يې پريښودل ښه کارنه دی، البته که دا ويره وي چي د پوره قرآن مجيد د لوستلو په سبب به خلک لمونځ پريږدي او جمع به ماته شي نو څومره چي لوستلای شي هغومره دي ولولي يا دي آخري لس سورتونه په هررکعت کي يو يو سورت لولي کله چي لس رکعته پوره شي بيا دي له سره شروع کړي.

(۷) تر څو چي د خلقو شوق نه وي معلوم شوی د يوه ختم څخه زيات دی نه کوي.

(۸) که خلک شوق ولري نو په يوه شپه کي يو ختم دقرآن کريم جائز دی او که پر خلکو تکليف وي نو مکروه دی.

(۹) د تراويح په لمانځه کي د ختم په صورت کي يوځل د "بسم الله الرحمن الرحيم" ويل په لوړ آواز سره ضروری دی ځکه چي بسم لله الرحمن الرحيم هم د قرآن مجيد يو آية دی، که څه هم د يوه سورة جُز نه دی خو که په زوره ونه ويل شي نو د قرآنکريم په پوره کيدوکي د يوه آية کموالی راځي او که امام په قراره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله وويله نو د مقتديانو د قرآن مجيد ختم به پوره نه شي.

(۱۰) تراويح د روژې په ټوله مياشت کي سنت دي که څه هم د قرآن مجيد ختم د مياشتي تر پوره کيدو تر مخه پوره شي مثلاً د روژې د مياشتي په اولو شلو شپو کي د قرآن ختم وشو نو باقي لس شپې هم تراويح کول سنت دي.

(۱۱) په تراويح کي درې ځلي قل هوالله ويل لکه څنګه چي عام دستور دی مکروه دي.

## د اخترونو لمونځونه

په اسلام کي د اخترو دواړي ورځي د خوشحالۍ ورځي دي او په دواړو ورځو کي دوه دوه رکعته لمونځ د شکريې واجب دي، کوم شرطونه چي د جمعې د لمانځه دي هغه د اختر د لمانځه هم دي مګر د جمعې د لمانځه د پاره خطبه شرط ده او دلمانځه ترمخه ويل کيږي خو د اختر په لمانځه کي شرط نه ده بلکه سنت ده او د لمانځه څخه وروسته ويل کيږي، البته د اختر د خطبې اوريدل د جمعي د خطبې په شان واجب دی په منځ کي خبري يا لمونځ کول يا کوم بل کار کول منع دی.

د دواړو اخترو په ورځ ديارلس (۱۳) کارونه سنت دي:

(۱) د شريعت مطابق ځان تيارول.

(۲) غسل کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) مسواک وهل.
(۴) ښې جامې اغوستل.
(۵) په ځان پوري خوشبويي وهل.
(٦) د خوب څخه سهار وختي را پاڅيدل.
(۷) وختي عيدګاه ته تلل.
(۸) عيدګاه ته د تلو نه مخکي خوږ شی خوړل.
( ۹) عيدګاه ته د تلو نه مخکي د فطر صدقه (سرسايه) ورکول.
(۱۰) د اختر لمونځ په عيدګاه کي کول يعني بيله عذره د اختر لمونځ په ښار کي کول ښه نه دی.
(۱۱) چي پر کومه لار تللي وي د راتګ په وخت کي به پر بله لار راځي.
(۱۲) پياده د عيدګاه لمانځه ته تلل.
(۱۳) په لاره کي دا لاندي تکبيرونه ويل:
اَللّٰهُ اَكبَرُ ط اَللّٰهُ اَكبَرُ ط لآاِلٰهَ اِلاَّاللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكبَرُ ط اَللّٰهُ اَكبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمدُ ط
د کمکي اختر (عيدفطر) د لمانځه طريقه په لاندی ډول ده:
(۱) **نيت:** نَوَيتُ اَن اُصَلِي رَكعَتيَ الوَاجبِ صَلٰوةِ عِيدِ الفِطرِمَعَ سِتِّ تَكبِيرَاتٍ فِى هٰذَ الوَقتِ وَقتَدَيتُ بِهٰذَ الاِمَامِ مُتَوَجِهًا اِلَى جَهَةِ كَعبَةِ الشرِيفَةِ (نيت کوم چی ادا کړم دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رکعته لمونځ واجب د کوچني اختر سره د شپږو تکبیرو په دغه حاضر وخت اقتدا مي ده په دغه حاضر امام پسې مخ مي دی پر لوري د کعبې شریفي) د امام د تکبیرسره به مقتدیان لاسونه دالله اکبر په ویلو سره تر غوږو پوري پورته کړي اوتر نامه لاندي به یې ونیسي.

سُبحَانَکَ اللّٰهُمَّ، اَعُوذُ بِاللهِ او بِسمِ الله به امام او مقتدیان په خفیه سره ووایي.

(۲) مقتدیان دی امام ته متوجه شي امام دري ځلی اَللهُ اَکبَر وایې دا تکبیرونه واجب دي او مقتدیان به یې هم ورسره وایي د هرتکبیر سره امام لاسونه تر غوږو پورته کوي بیا یې کښته ځوړند نیسي مقتدیان به هم په عین ترتیب د امام متابعت کوي.

(۳) امام د دریم تکبیر ویلو وروسته لاسونه تر نامه لاندي نیسي د نورو لمونځونو په شان په قرآئت پیل کوي نو مقتدیان به چُپ ولاړ وي، بیا امام د قاعدې مطابق رکوع، قومه او سجده کوي مقتدیان به د امام متابعت کوي.

(۴) په دوهم رکعت کي امام اول الحمدلله او سورة وایي بیا دري تکبیرونه وایي مقتدیان به هم دا تکبیرونه وایي د هر تکبیر په ویلو سره امام او مقتدیان لاسونه غوږو ته پورته کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځوړند يې نيسي د څلورم تکبير په ويلو سره امام بيا د قاعدې مطابق رکوع ته ځي قومه او سجده کوي په آخره ناسته او سلام ګرځولو سره لمونځ ختم کوي او مقتديان به هم د امام متابعت کوي.

(۵) بيا امام وروسته پر ممبر دريږي او دوې خطبې وايي د دواړو خطبوپه منځ کي دومره کښيني لکه د جمعې په خطبه کي د اختر په خطبه کي بايد شروع په الله اکبرسره وشي، په اوله خطبه کي نه (۹) ځله الله اکبر او په دوهمه خطبه کي اووه (۷) ځله الله اکبر ويل ضروري دي، د لوی اختر(عيد قربان) د لمانځه همدغه طريقه ده فرق يې صرف دومره دی چي د لوی اختر د لمانځه په نيت کي د کوچني اختر په عوض کي لوی اختر ذکر کيږي، په کوچني اختر کي وعيدګاه ته د تلو نه مخ کي څه خوږ شی خوړل سنت دي او په لوی اختر کي نه خوړل سنت دي.

په لوی اخترکي د صدقۀ فطر په شان کومه صدقه نشته خو بايد له نظره پاته نه شي چي د توان او طاقت لرلوسره قرباني واجب ده

اذان او اقامت د اخترو د لمونځو دپاره نشته، په کوم ځای کي چي د اختر لمونځ کيږي هلته بل لمونځ کول مکروه دی که د لمانځه ترمخه وي او که ورورسته، په کور کي هم د اختر تر لمانځه دمخه لمونځ کول مکروه دی مګر د اختر تر لمانځه وروسته په کورکي لمونځ کول مکروه نه دی، همدارنګه ښځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا هغه ځوک چي په څه عذر د اختر په لمانځه کي ګډون نه کوي د هغوی نفل لمونځ کول مخکي د اخترتر لمانځه مکروه دی.

د دواړه اخترو په خطبه کي د صدقهٔ فطر احکام او د لوی اختر په خطبه کي مسائل او د تشریق د تکبیرو احکام بیانول ضروري دی د تشریق تکبیرونه یعني تر لمانځه وروسته یوځل

اَللّٰهُ اَکبَرُ ط اَللّٰهُ اَکبَرُ ط لآاِلٰهَ اِلاَّاللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکبَرُ ط اَللّٰهُ اَکبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمدُ ط

ويل پر هغه چا واجب دی چي د اخترلمونځورباندی واجب وي، پر ښځه او مسافر واجب نه دي، هغه ځوک چي د اختر لمونځ ورباندي واجب نه وي د لوی اختر په ورځو او شپو کي په امام پسې لمونځ په جماعت وکړ امام د سلام ګرځولو متصل د تشریق تکبیرونه وايي نو په ګډون د دغه شخص پر ټولو مقتدیانو يې ويل واجب شول.

د تشریق تکبیرونه د عرفات د ورځي یعني د لوی اختر د میاشتي د نهم تاریخ د سهارځخه شروع او د دیارلسم تاریخ تر مازدیګر پوري چي ټوله درویشت لمونځونه کیږي واجب دی، ځوک چي ځان له لمونځ کوي یا ښځه یا مسافرهم د تشریق تکبیرونه وایي ډیر احسن عمل دی.

دغه تکبیرونه متصل د هرلمانځه وروسته په لوړ آواز ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



واجب دي، خو د ښځو د پاره په کراره ويل ښه دي، که د امام څخه هير شول نو مقتديان دي ژر شروع په وکړي، د اختر د لمانځه نه وروسته هم د ځينو فقهاؤ په نزد تکبيرونه ويل واجب دي.

که د چا څخه د اختر لمونځ تير شو نو په ځانګړه توګه د اختر لمونځ نه شي ادا کولای که بل جماعت ته ځان ورسوي ډير به ښه وي همدارنګه که څوک د اختر د لمانځه په جمع کي شريک شو او په کوم سبب يې لمونځ مات شو نو هغه يې هم قضاء نشي کولای او نه قضاء پر واجب ده، که د ډيرو خلګو لمونځ په څه سبب مات شوی وي نو بيا قضاء وربانديي واجب ده او په جمع سره به يې کوي.

که په څه عذر د اختر په لمړۍ ورځ ونکړه شو نو د کوچني اختر لمونځ به په دوهمه ورځ او د لوی اخترلمونځ د ذي الحجې تر دوه لسم (۱۲) تاريخ پوري کولای شي، د لوی اختر لمونځ که بې عذره پاته شي په دوهمه ورځ يې کول مکروه دی.

## د جنازې لمونځ

د جنازې لمونځ په واقعيت کي د مړي دپاره د الله ﷻ څخه د دُعا غوښتل دی.

(۱) د جنازې د لمانځه د وجوب د پاره ټول هغه شرطونه دي چي د لمانځه د پاره دي (مسلمان، عاقل او بالغ) يو شرط چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکي زيات دی د مړي څخه خبريدل دي بې خبري عذر دی.

(۲) د جنازی د لمانځه د پاره دوه شرطونه دی:

اول هغه چي د لمونځ کوونکوسره تعلق لري لکه د بدن پاکي، د عورت پټول، قبلې ته مخ کول او داسي نور، د جنازې په لمانځه کي د وخت شرط نشته، که د لمانځه د تيريدو خطره وي نو تيمم کول جائز دی.

دوهم هغه شرطونه دي چي دمړي سره تعلق لري او هغه شپږ دي:

(۱) مړی به مسلمان وي که څه هم فاسق يا بدعتي وي لمونځ يې جائز دی ، څوک چي د وخت د پاچا په مقابل کي بغاوت وکړي او مړ شي لمونځ ورکول يې جايز نه دی، که د جنګ نه پس مړ شي بيا يې لمونځ جائز دی.

(۲) ځيني کسان د جنازې لمونځ د بوټو سره کوي، که بوټونه پاک وي نو څه باک يې نسته او که ناپاکه وي نو هغه به بوټونه پاکوي يابه يې له پښو باسي، که دغه پاکي په نظر کي و نه نيسي نو لمونځ يې نه کيږي.

(۳) د کوم ماشوم چي مور يا پلار مسلمان وي هغه به مسلمان ګڼل کيږي.

(۴) د مړي د بدن د حقيقي او حکمي نجاست څخه پاکول، که نجاست له بدن څخه راوتلی وي او په بدن پوري نښتی وي نو خير دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵) د مړي نه مراد هغه څوک دی چې ژوندی پیدا سوی وي بیا مړ شي، که مړ کوچنی پیدا سي هغه ته لمونځ ورکول صحیح نه دی.

[ردالمحتار ص ۵۸۲ اول ټوک، بحرالرائق ص۱۸۸ دوهم ټوک]

(٦)که یو مړي د نجاست حکمیه څخه پاک نه وي یعني غسل نه وي ورکول سوی یا تیمم نه وي وکړل سوی په هغه صورت کي چي غسل ناممکن وي نو هغه ته لمونځ ورکول روا نه دي مګر که د هغه پاکوالی ممکن نه وي مثلاً بې غسله یا بې تیممه پټ شوي وي او پر قبر یې خاوري هم اچول شوي وي نو بیا وهغه ته لمونځ ورکول دده پرقبر باندي په دغه حالت کي روا دی.

که پر یوه مړی باندي بیله غسله او بیله تیممه لمونځ شوی وي او تر دفن وروروسته معلومه شي چي هغه ته غسل نه وو ورکړه شوي نو د ده پر قبر باندي دي دوهم ځل لمونځ وشي ځکه چي د اول ځل لمونځ نه دي صحیح شوی، اوس چي غسل ممکن نه دی نو لدې سببه لمونځ یې صحیح کیږي.

[بحرالرائق ص ۱۷۹ دوهم ټوک، ردالمحتار ص ۵۸۲-۵۹۲]

(۷) د مړي د بدن هغه حصه به پټه وي چي پټول یې واجب او ضروري دی، که مړی بالکل لغړ وي نو لمونځ ورکول روا نه دي

[درمحتار ص ۱۲۱اول ټوک، ردالمختار ص ۵۸۲ اول ټوک]

(۸) مړی به د لمونځ کونکو و مخ ته وي که مړی د لمونځ کونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



و شاته وي لمونځ يې نه صحيح کيږي.

[درمحتار ص ۱۲۱ لومړي ټوک، ردمختار ص ۵۸۲ اول ټوک]

همدارنګه د مړي موجوديت هم شرط دی که مړی موجود نه وي نو د جنازې لمونځ جائز نه دی.

د جنازې په لمانځه کي دوه رکنه دي:

اول څلور ځله الله اکبر ويل چي هرتکبير د يوه رکعت په ځای دريږي. دوهم قيامه يعني په ولاړه د جنازې لمونځ کول، څرنګه چي په نورو لمونځوکي دريدل فرض دي او بيله عذره يې پريښودل جائز نه دي دلته هم داسي دي، د عذر احکام لکه څنګه چي هلته دي دلته هم دغسي دي.

د جنازی په لمانځه کي رکوع، سجده،قعده او داسي نور نشته خو درې شيان پکي سنت دي:

(۱) د الله جل جلاله ثنا.

(۲) پر رسول ﷺ درود ويل.

(۳)مړي ته دعا کول.

د جنازې په لمانځه کي جماعت شرط نه دی که يو نفر يې وکړي نوهم فرض اداشو مګر په جماعت کول ډيرګټور دی ځکه چي د ګڼو مسلمانانو په جمع کي د دعا د قبليدو اميد زيات وي.

د جنازې د لمانځه مستحبه او مسنونه طريقه داسي ده چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړی به په خپل مخ کي کښېږدي امام به د مړي سينې ته برابر ودرېږي خلګ به صفونه طاق جوړکړي يعني درې يا پنځه يا اوه او ټول به داسي نيت وکړي:

نَوَيتُ اَن اُصَلِّيَ لِلّٰهِ تَعَالى اَربَعَ تَكبِيرَات صَلاَت الجَنَازَة اَلثَّنَاءُ لِلّٰهِ تَعَالى وَالصَّلٰوةِ عَلى رَسُو لِه وَالدُّعَاءُ لِهٰذَ الْمَيِّتِ اقتَدَيتُ بِهٰذَ لأَمَامِ مُتَوَجِّهًا اِلى جِهَةِ الكَعبَةِ الشَّرِيفَةِ.

**ژباړه:** نيت مي وکړ د زړه د اخلاصه څلور تکبيره لمونځ کوم ثناء وايم الله ته درود ويم پر رسول د الله دعاکوم دغه ميت ته اقتدا مي ده په دغه حاضر امام پسي مخ مي دی پر لوري د کعبې شريفي.

امام او مقتديان به د اللهُ اکبر په ويلوسره لاسونه غوږوته پورته کړي او ترنامه لاندي به يې ونيسي او دغه ثناء به ووايې:

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمدِكَ وَتَعَالى جَدُّكَ وَجَلَّ ثَنَاءُكَ وَلآاِلٰهَ غَيرُكَ.

بيا دي بل اللهُ اکبر ووايي لاسونه دي نه ښوروي او دا درود دي ووايي:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلى مُحَمَّدٍ وَّ عَلى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيتَ وَسَلَّمتَ وَ بَارَكتَ وَ رَحِمتَ وَ تَرَحَّمتَ عَلى اِبرَاهِيمَ وَ عَلى آلِ اِبرَا هِيمَ اِنَّكَ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ

بيادي اللهُ اکبر ووايي لاسونه دي نه ښوروي او د مړي دعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي وو ايي، که مړی بالغ نارینه یا بالغه ښځه وي:

اَللّٰهُمَّ اغفرلِحَیِّنا وَمَیِّتِنا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنا وَصَغِیرِنَا وَکَبِیرِنَا وَذَکَرِنَا وَاُنثَانَا اَللّٰهُمَّ مَن اَحیَیتَهُ مِنَّا فَاَحیِه عَلَی الاِسلاَم وَمَن تَوَفَّیتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَی الاِیمَان.

په ځینو احادیثو کي نوري دعاوي هم راغلي دي چی یوه دغه د نارینه د پاره ده:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرلَه وَارحَمهُ وَعَافِه وَعفُ عَنهُ وَ اَکْرِم نُزُلَه وَوَسِّع مُدخَلَه وَاَغْسِلْه بِالْمَاءِ وَالثلجِ وَالبَرَدِ وَنَقِه مِنَ الذنُوبِ کَمَایُنقَیَّ الثوبُ الاَبیَضُ مِنَ الدَّنَسِ وَاَبدله دَارًا خَیرًامِن دَارِه وَزَوجًاخَیرًامِّن زَوجِه وَاَهلاًخَیرًامِّن اَهلِه وَ اَدخِله الجَنَّةَ وَاَعِذه مِن عَذَابِ القَبرِوَعَذَابِالنَّار.

بلکه امام شافعي (رح) دوا ړي دعاوي سره یو ځای کړيدي او لکه مخکي چي مو وویل چي په احادیثو کي نوري دعاوي هم راغلي دي هره یوه چي يې خوښه سي هغه دي وو ايي.

که مړی نابالغ هلک وو نو دا دعا دي وو ايې:

اَللّٰهُمَّ اجعَلهُ لَنَافرطًا وَّاجعَلهُ لَنَا اَجرًا وَّذُخرًا وَّجعَلهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مړی نابالغه نجلۍ وي نو دا دعا دې ووايي:

اَللّٰهُمَّ اجعَلهَا لَنَا فَرطًا وَّاجعَلهَا لَنَا اَجرًا وَّذُخرًا وَّاجعَلهَا لَنَا شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً.

لدې دعا وروسته امام بيا الله اکبر وايي او سلام ګرځوي له سلام ګرځولو سره لاسونه کښته پريښودل کيږي.

امام به هم تکبيرونه په لوړ آواز وايي او هم به سلام په لوړ آواز وايي چې مقتديان يې واوري خومقتديان به يې په کراره سره وايي.

## سنت او نفل لمونځونه

د سهار د لمانځه نه مخکې دوه رکعته لمونځ سنت دي په احاديثو کې يې ډير تاکيد راغلی دی، که کومه ورځ ناوخته سي او د لمانځه وخت بالکل آخر وي چې صرف دوه رکعته لمونځ کيداې شي نو دوه رکعته فرض دې وکړي کله چې لمر راوخيژي نو د سنتو قضاء دې راوړي.

د ماسپښين د څلور رکعتوفرضوڅخه مخکې څلور رکعته سنت او وروسته بيا دوه رکعته سنت ډير ضروري دي بيله عذره پريښودل يې سخته ګناه ده.

د مازديګر د څلور رکعته فرضوڅخه مخکې څلور رکعته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنت ډېرثواب لري خو دومره تأکید یې نشته که چا و نه کړل ګنهګار نه دی او که یې وکړل ثواب یې ډېر دی.

د ماښام د درې رکعتو فرضو څخه وروسته دوه رکعته سنت هم ډېرضروري دي او بیله عذره پرېښودل یې ګناه ده.

د ماسخفتن د څلور رکعته وروسته دوه رکعته سنت هم ضروري دي پرېښودل یې سخته ګناه ده، همدارنګه د فرضو څخه مخکې څلور رکعته سنت کول ډېر ثواب لري خو پرېښودل یې ګناه نه ده.

کوم سنت چې کول یې ضروري وي هغه مؤکد دي چې په یوه شپه او ورځ کې دوولس(۱۲) رکعته دي، دوه د سهار، شپږ د ماپښین دوه د ماښام، دوه د ماخوستن.

په روژه کې تراویح او د شپې تهجد هم ځینو فقهاؤ په سنت مؤکد کې شمیرلي دي.

څومره لمونځونه چې د شریعت له طرفه مقرر دي که د هغه څخه څوک زیات لمونځونه کوي چې څومره یې زړه وغواړي و دې کړي ولې لمونځ کول باید په مکروه وخت کې نه وي، د فرض، واجب، سنت او وِتر لمونځو څخه علاوه نور ټول نفل دي، نفل چې څومره کوي هغومره یې ثواب ډېر دي.

د بعضې نفلو ډېر لوي ثواب دي او په لږ خواري سره حاصلیدلای شي لکه تحیة الوضوء، اشراق، تحیة المسجد،

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلوة التسبيح چي هر يو ځانته تفصيل لري:

**تحية الوضوء:** كله چي څوک اودس تازه كړي نو وروسته دي دوه ركعته نفل وكړي، په احاديثو كي يې ډير فضيلت راغلى دى خو چي په مكروه وخت كي نه وي.

**صَلوٰةُ الاِشرَاق:** د سهار دلمانځه وروسته چي څوک بيله درود شريف او نورو اذكارو څخه د دنيا په كار مشغول نه شي كله چي لمر ښه راوخيژي چي رڼايې سپينه شي او دوه ركعته نفل لمونځ وكړي د يوه حج او عمرې غوندى ثواب لري، كه د سهار د لمانځه څخه وروسته د دنيا په كار اخته شي بيا د لمر د راختو څخه وروروسته دوه ركعته نفل لمونځ وكړي هم اشراق بلل كيږي خو ثواب يې د مخكي نه كم دي، د څاښت د لمونځ په نوم هم يادېږي.

**تَحِيةُ المَسجد:** كله چي څوک په تطهير سره مسجد ته داخل شي د جماعت د دريدو څخه مخكي دوه ركعته نفل اداكولو ته تحية المسجد وايي، رسول الله ﷺ فرمايي: له تاسو نه چي څوک مسجد ته داخل شي څو چي دوه ركعته نفل د تحية المسجد يې نه وي كړي نه دي كښيني، كه جماعت تيار وي نو په جماعت كي ګډون ډير افضل دي، د تحية المسجد نفل يوازي د ماپښين، مازديګر او ماخُستن د لمونځو ترمخه كيداى شي، د سهار د لمانځه څخه مخكي يوازى دوه ركعته سنت سته او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مابنام د لمانځه مخکي هم نفل لمونځ نه بنايې چي وکړل شي.

**صَلٰوةُ الاَوَابِين**: د مابنام د لمانځه څخه وروسته لږ تر لږه شپږ رکعته تر شل رکعته پوري نفل لمونځ کول د صَلٰوة الاٰبين په نوم سره يادېږي.

**صَلٰوةُ التَهجُد**: د شپي په وروستۍ دريمه برخه کي نفل لمونځ ادا کولو ته د تهجد لمونځ ويل کيږي، د تهجد لمونځ تر څلور رکعته کم او تر دوولس رکعته زيات نه دي.

**صَلٰوةُ التَسبيح**: په احاديثو کي د صلٰوة تسبيح ډير فضيلت بيان شوي دي رسول الله ﷺ خپل تره حضرت عباس رضي الله عنه ته فرمايې چي پدغه لمانځه سره به ستا کوچنی، لوي، راتلونکي او تيرشوي ګناهونه معاف شي، که طاقت لري نو هره ورځ دغه لمونځ کوه، که نه په هفته کي يوه ځل، که نه په مياشت کي يوځل، که نه په کال کي يوځل او که نه په ټول ژوند کي يوځل ضرور وکړه.

د صلٰوة تسبيح طريقه داسي ده چي د څلورو رکعتو نيت تړل کيږي د سُبحانک اللهُمَّ وروسته پنځلس واره سُبحَانَ اللهِ وَالحَمدُ للهِ وَلاَ اِلٰهَ اِلا اللهُ وَاللهُ اَکبَرُ ويل کيږي بيا تر اعوذ بالله، بسم لله، الحمد لله او سورت څخه وروسته او د رکوع نه مخکي لس ځله، په رکوع کي د سبحان ربي العظيم وروسته لس ځله، چي د رکوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ولاړ سي په قومه کي لس ځله، په اوله سجده کي د سبحان ربي الاعلى وروسته لس ځله، چي د اولي سجدې څخه راپورته سي او کښيني لس ځله، بيا په دوهمه سجده کي د سبحان ربي الاعلى وروسته لس ځله.

دارنګه دا تسبيح په يوه رکعت کي پنځه اويا(۷۵) ځله کيږي، وروسته چي و دوهم رکعت ته ولاړ سي د سورة فاتحه څخه وروسته پنځه لس ځله ويل کيږي، همدارنګه په پاته رکعتو کي په بيان سوې طريقه سره عمل کول دي، په څلور رکعاتو کي درې سوه (۳۰۰) ځله ويل کيږي.

دا طريقه امام ترمذي (رح) د عبدالله ابن مبارک (رح) څخه روايت کړيده، دا لمونځ غير له مکروه وخت څخه بل هر وخت کول روا دی.

## په کوم وخت کي لمونځ ماتول جائز دي

(۱) که څوک د موټر يا ګاډی يا هوايي جهاز څخه را کښته سوی وي واړه، ښځه يا سامان يې هلته پروت وي او دی لمونځ کوي خو هغه نقليه حرکت کوي نو ده ته لمونځ ماتول جائز دي تر څو هغه نقليه ورڅه ولاړه نه سي.

(۲) که مار، زمری يا هر درنده وليدل شي چي د ده د ځان د پاره خطره وي لمونځ ماتول جائز دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) که د چرګانو یا نورو مرغانو کوډل خلاصه پاته وه سپی یا پیشو هغه لوري ته ولاړه او ویره وه چي وبه یې خوري نو لمونځ ماتول جائز دي.

(۴) که پر لمانځه ولاړ وو چا یې بوټونه یا کوم بل شی پورته کړ دا ویره وه که لمونځ پوره کوي غل به وتښتي نو لمونځ ماتول جائز دي.

(۵) که دیګ پر اور پروت وو پر جوش راغی او تویېدی که یې د ضایع کیدو قیمت د یوه درهم سره برابر وو نو د لمونځ ماتول جائز دي.

(٦) که په لمانځه کي د حاجت د رفع کولو ضرورت پیدا شو نو لازم دی چي لمونځ مات کړي او د ضرورت څخه ځان فارغ کړي.

(۷) که لمونځ کوونکي یو ړوند ولید او ویره وه چي په کوم کوهي یا کنده کي لویږي نو لمونځ ماتول فرض دی، که یې مات نه کړ او ړوند په کوهي کي ولویدی نو لمونځ کوونکی ګنهګار دی.

(۸) که د کوم ماشوم په جامو اور لګیدلی وو او لمونځ کوونکي ولیدی نو د ماشوم د نجات د پاره لمونځ ماتول فرض دی.

(۹) که لمونځ کوونکي ته مور، پلار، انا، نیکه د کوم خاص ضرورت د پاره بږغ ور وکړي نو فرض لمونځ ماتول فرض دی، مثلاً مور سخته ناروغه وه په څه وجه راپورته کیږي یا پریوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل څوک نه وي نو لمونځ دي مات کړي او د هغوی خدمت دي وکړي، که د خدمت بل څوک وي نو ضرورت نسته.

(۱۰)که سنت یا نفل لمونځ کوي مور، پلار، انا، نیکه ته معلومه نه وه چي دی یا دا لمونځ کوي، غږ یې ور وکړ نو لمونځ ماتول او هغوی ته ځواب ورکول واجب دي، که نه نو ګنهګار دی.

لمونځ نور هم ډیر قسمونه لري او د لمانځه په هکله نور هم ډیر مسائل شته لکه د تندر لمونځ، د استسقاء لمونځ، د استخارې لمونځ، په کعبه مکرمه د ننه لمونځ، د خوف (ویري) لمونځ او داسي نور...

لکه څنګه چي دلته زموږ منظور یوازي د لمانځه اثبات او صحت دی نو لازم ونه ګڼل شوه چي د لمانځه ټول اقسام او مسائل ذکر کړو.

د لمانځه مینه وال د نور معلومات په هکله ټول مسائل، اقسام، احکام او ارکان په مفصل ډول په شروط الصلوات، قدوري، رحمت بیان، جنتي کالي (بهشتی زیور) او داسي نورو د فقهي کتابو ته مراجعه وکړي ستاسو بریا زما آرزو ده.

(حاجی جان محمد کاکړ)

فَسَهِّلْ یَا اِلٰهِیْ کُلَّ صَعب ❀ بِحُرْمَتِ سَیِّدِ الابرَارِ سَهِّلْ

خــــــتم شــــــو

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**